جميع الحقوق محفوظة بحقّ المؤلّف

اسم الكتاب : ........ ..... معارف الاحوال لاصلاح عمل الاطفال

تأليف : ............... .......... الشيخ رضآء الله الباجوري

الطبع : .................. .................... السابع سنة ١٤٤٦هـ

النّاشر : ..... مدرسة ترتيل القرآن حاجي لونج شريف آباد

شانرے باجور پاکستان

# تـقـديـم

اَلْــحَـمْـدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْـعَـالَـمِـيْـنَ وَ الْـعَـاقِـبَـةُ لِـلْـمُـتَّـقِـيْـنَ وَ الـصَّلٰـوةُ وَ الـسَّلَامُ عَلٰـى رَسُوْلِـهِ مُـحَـمَّـدٍ وَّ آلِـهِ وَ اَصْحَـابِـهِ اَجْـمَـعِـيْـنَ .

الله سبحانه و تعالی د انسان د پاره هر یو څیز د دنیا او آخرت د فائدو د پاره پیدا کړے دے اګر چې انساني عقل د هغي نه قاصر دے او کله کله خو انساني عقل د هغي لِمْ او راز ته هم ورسیږي لیکن مسلمان بحیثیت مسلمان به دا هر عمل د دي د پاره کوي چې زما د رب حکم دے او زما د آقا ﷴ رسول الله صلّی الله علیه و سلّم فرمان دے مسلمان چې کله په دائره د اسلام کښې داخل شو نو د مهد نه تر لحده پوري او د بیت الله نه تر بیت الخلآء پوري دیته احکام متوجّه شو دَ ایمان نه بعد اول حکم د مونځ دے نبي علیه السلام هم په آخر وقت کښې د مانځه فرمائیلي وو : اَلصَّلٰوةُ وَ مَا مَلَکَتْ اَیْمَانُکُمْ ، او په قبر کښې به هم د ایمان نه بعد اول د مونځ تپوس کیږي مونځ د مونځ په صفاتو سره کول .

الله رب العزت دي زمونږ مونځونه ظاهرًا او باطنًا برابر کړي : آمین .

الاحقر الافقر رضآء الله بن الحاج خان بادشاه

♥ د مونځ فرائض ♦

د مونځ د پاره دیارلس (۱۳) فرض دي اووۀ(۷) د مونځ نه بهراومخکښې دي، او شپږ (۶) دننه دي چې د فقه ﭘۀ کتابونو کښې د دینه تعبیر پۀ شرطونو سره او رکنونو سره کیږي :

اول دمونځ شرطونه دي هغه دا دي :

(۱).پاکوالے د بدن دے دوړو متیازو او غټو متیازو نه او د دي پۀ شان نوره ګندګي .

(۲) پاکوالے د جامو دے د غټې ګندګۍ او وړې ګندګۍ نه.

(۳) پاکوالے د هغه ځاے دے چې پۀ کوم ځائے مونځ کولے شي .

(۴) پټول د عورت.

**نوټ :** د سړي عورت د نامه نه تر زنګونونو پوري دے او د زنانه ټول بدن عورت دے مګر که پۀ مونځ کښې پښې مخ لاسونه ښکاري نو مونځ کیږي او وینـ ځه پۀ شان د سړي ده مګر ملا او خیټه ئي عورت دے

(۵) مخ پۀ قبلې ودریدل .

(۶) نیت کول .

(۷) وقتونه پیژندل د مونځ دي .

**حکم :** چا چې پدې اووۀ شرطونو کښې یو هم پریښودو که پۀ قصد سره وي او که پۀ هیره وي نو مونځ ئي نه صحیح کیږي .

او هر چې رکنونه دي نو هغه دا دي

(۱) تکبیر د شروع . (۲) قیام . (۳) قرآئت . (۴) رکوع . (۵) سجده کول . (۶) اخیره قعده .

**حکم :** چا چې پدې شپږو ارکانو کښې څه پریښودل نو مونځ ئي فاسد دے او مونځ به د اول نه بیا کوي .

♥د مونځ دَ واجبُ بیان ♦

پۀ مونځ کښې څوارلس / ۱۴ واجب دي

(۱) سورة فاتحه لوستل (یعنی د فرض مونځ دآخري دوه رکعتونونه علاوه دهرمونځ پۀ هررکعت کښې اَلْحَمْدُلِلّٰهِ ۔ ۔ ۔ ویل).

(۲) د الحمد سره یوسورت یادرې آیتونه ویل (یعنی دفرض مونځ دآخري دوه رکعتونونه علاوه دهرمونځ پۀ هررکعت کښی د سورة الفاتحه نه پس یوسورت ،یودرې لنډې یایواوږدآیت ویل)

(۳) دفرضواول دوه رکعتونه دقِرائت دپاره متعین کول ۔

(۴) سورت فاتحه دسورت نه مخکښې ویل ۔

(۵) قومه کول (یعنی درکوع نه پس سیده ودرېدل) ۔

(۶) جلسه کول (یعني ددواړسجدوپۀ مینځ کښې کیناستل)

(۷) تعدیل دارکانو(یعني رکوع اوسجده پۀ اطمنان سره اداءکول) ۔

(۸) پۀ قرائت ،رکوع،اوسجده اورکعتونوکښې دترتیب لحاظ ساتل.

(۹) اوله قعده کول ۔

(۱۰) د فرض پۀ اول دوؤ رکعتونو کښی قرأت کول .پۀ دواړوقعدوکښې تشهدویل ۔

(۱۱)دامام دپاره دسهرماښام،ماسخوتن،جُمعې،اخترونواوتراويحوکښېپهٔ اوچت آوازسره قِرائت کول ۔ اوپهٔ ماسپخين،او،مازيگرکښې پهٔ پټه قِرائت کول ۔

(۱۲) دوِتروپهٔ دريم رکعت کښې ددعای قنوت دپاره تکبيرويل اودعای قنوت لوستل ۔

(۱۳) پهٔ لفظ د السلام عليکم ورحمة الله باندی مونځ ختمول.

(۱۴) د اخترونو پهٔ مونځ کښی شپږ زاياتي تکبيرونه ويل.

**حکم :** چا چې د دي څوارلسو واجبو نه څه پريښودل که پهٔ هيره سره وو نو سجده سهوه پري لازم شوه او که قصدًا ئي پريښودل نو څه پري واجب ندي خو ليکن مونځ ئي د نقصان سره اوشو .مثلاً سورة الفاتحه ونه لولی يا صرف سورة الفاتحه ولولی او ددی سره سورة يا ايت ونه لولی يا اوله قعده ونه کړی فورًا دريم رکعت ته پاڅی يا کينی ليکن التحيات ونه لولي.

♥د مونځ د سنتو بيان ♦

پهٔ مونځ کښې۲۳درويشت سنت دي :

(۱) د اول تکبير سره لاسونه اوچتول تر دي چې دا غټي گوتي د غوږونو د نرمو سره برابر شي .

(۲) کيښودل د ښي لاس دي پهٔ گس لاس باندي دنامه نه لاندي اود ښځې دپاره پهٔ سينه ايخودل.

(۳) د دواړو لاسونو گوتی پهٔ خپل لاس کولاو مخ پهٔ قبله کول.

(۴) د تکبيروئيلو پهٔ وخت سر نه ټيټول .

(۵) د امام د پاره تکبيرونه پهٔ وقت د ضرورت مطابق پهٔ زوره وئيل.

(۶) د فرض مونځ په دريم ۳ او څلورم ۴ رکعت کښی صرف سورة الفاتحه لوستل.

(۷) سُبْحَانَكَ اللهم ، بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ،اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيطَانِ الَّجِيم، او آمين ټول په دمه وئيل.

(۸) د سنت مطابق قرأت کول يعنی په کوم مونځ کښی چه څومره مقدار قِرأت کول سنت دی د هغی موافق وئيل.

(۹) په رکوع او سجده کښی دری ۳دری۳ کرته تسبيح وئيل..

(۱۰) په رکوع کښی سر او ملا برابرول او د دواړو لاسونو په پرانستو ګوتو زنګونونه نيول ـ

(۱۱)په قومه کښی د امام دپاره سَمِعَ الله ِلِمَنْ حَمِدَه او د ځان له مونځ کونکښي دپاره دواړه يعني سَمِعَ الله ِلِمَنْ حَمِدَهُ اورَبَّنَالَکَ الْحَمْدُ او مقتدی دپاره رَبَّنَالَکَ الحَمد وئيل.

(۱۲) مونځ کونکے چې کله سجدي ته ښکته نو اول به

زنګنونه په زمکه کيښږدي ، بيا دواړه لاسونه او بيا تندے په زمکه لګول ـ

(۱۳) په جلسه او قعده کښی ګسه ښپهٔ خورول او پدی کيناستل او ښئ ښپهٔ په داسی اندازودرول چه د ګوتو د سرونو مخونه ئی قبلی ته راشی ـ

(۱۴) په تشهدکښې دواړه لاسونه په زنګونانو ايښودل ـ

(۱۵) په تشهد کښی په اَشهَد اَن لَّا اِلٰهَ اِلَّا الله باندی په مسواکئ ګوته اشاره کو ل ـ

(۱۶) آمین وئیل پۀ پټه باندې ـ

(۱۷) سُبْحَاَنَ رَ بِيَ اْلعَظِيْمِ پۀ رکوع کښې وئیل .

(۱۸) سُبْـحَـا نَ رَ بِّـيَ ا لاَ عْـلٰـي پۀ سجده کښې وئیل .

(۱۹) پۀ آخره قعده کښې دتشهدنه پس درود شريف اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وئیل.

(۲۰) د درود شریف نه پس دعا لوستل.

(۲۱) اول ښي طرف ته بيا ګس طرف ته سلام ګرځول .

(۲۲) پۀ سلام کښی د ملائکو ،مقتدیانو او د نیک جناتو چه کوم حاضر وی نیت کول.او که مقتدی وی نو د امام نه روسته کیدلو پۀ صورت کښی پۀ دواړو سلامونو کښی د امام نیت هم کول. او که چرته د امام نه ښی یا ګس طرف ته وی نو چه کوم طرف ته امام وی پۀ دی سلام کښی ددی نیت کول.

(۲۳) پۀ هرمونځ کښې دسنتوموافق قِرأت کول ـ

**حکم** : هر هغه څوک چې دا مذکوره سنت پریږدي که پۀ قصد سره وي او که پۀ هیره وي نو هیڅ شے پري لازم ندے مګر پریښودنکے ئي د ملامتیا مستحق دے .

نوټ:دمانځه سنت چازیات هم ذکرکړي،لکه نورالایضاح کښې یوپنځوس(۵۱) سنت ذکرشوي ـ

♥ د مونځ د مستحباتو بیان ♦

پۀ مونځ کښې ۵ پنـځه مستحبات دي :

۱ )تکبیر تحریمه وئیلو پۀ وقت کښی دواړه لاسونه د لستوڼو نه را بهر کول.

(۲) پهٔ رکوع ،سجده کښی د منفرد دپاره د دریو نه زیات کرته تسبیحات لوستل .

(۳) د ولاړېږ پهٔ حالت کښی د سجدی ځائ ته کتل، او سوچ به کوی چه دا زما قبر دے پهٔ رکوع کښی د قدمونو پهٔ شا باندی پهٔ قعده او جلسه کښی پهٔ خپله غیږ باندی اود سلام پهٔ وخت پهٔ خپلو اوږو باندی نظر کول .

(۴) تر خپله وسه خپل ټوخے قابو کول

(۵)پهٔ اسویلی۰[ارګمی] کښی خوله بنده لرل او که وازه شی نو د قیام پهٔ حالت کښی د ښی لاس پهٔ شا او پهٔ نورو ټولو حالتونو کښی د ګس لاس پهٔ شاه پټول .

**حکم :** دَ دي مذکوره مستحبَّاتو پرېښودنکے ګناهګار نه دے لیکن پهٔ کولو کښې ئي د الله دَ حکم تعظیم دے او دا سبب د اجر او ثواب دے .

## ♥دَ مونځ دَ مفسداتو بیان ♦

هغه ځیزونه چې پهٔ هغې سره مونځ فاسدیږي اتلس / ۱۸ دي .

۱ / پهٔ مونځ کښې خبري کول که پهٔ قصد سره وي او که پهٔ هیره سره وي لږ‌ي وي یا ډیري وي .

۲ / چا ته سلام پهٔ نیت د اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وغیره الفاظ وئیل .

۳ / دَ سلام یا پرنجي جواب ورکول یا دَ باهر سړي پهٔ دُعا آمین وئیل.

۴ / دَ غم دَ خبر پهٔ وجه اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ وئیل او پهٔ ښه خبر باندي اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وئیل او دَ نعمت او د تعجّب پهٔ خبر سُبْحَانَ اللهِ وئیل .

۵ / دَ درد یا غم پهٔ وجه آه ، اُوه ، اُف کول .

۶ / دَ خپل امام نه علاوه بل چا ته قرأت کښې فتحه ورکول .

۷ / د قرآن کریم نه پهٔ کتلو سره وئیل .

۸ / دَ قرآن مجید پهٔ وئیلو کښې غټه غلطي کول .

۹ / عمل کثیر کول یعنی داسي کار کول چې بل څوک دا خیال اوکړي چې ګني دے پهٔ مونځ ولاړ نه دے .

۱۰ / قصدًا یا پهٔ هیره خوراک څکاک کول .

۱۱ / د دوو صفونو پهٔ مقدار تلل .

۱۲ / بغیر د عذر نه سینه دَ قبلي نه اړول .

۱۳ / پهٔ ګنده ځائے باندي سجده کول .

۱۴ / دَ یو رکن پهٔ مقدار ستر ښکاره .

۱۵ / پهٔ مونځ کښې د الله سبحانه و تعالی نه داسي څیز غوښتل کوم چې دَ عامو خلقو نه غوښتلے شي لکه اے الله : ما له ډیري روپۍ راکړه .

۱۶ / دَ درد یا مصیبت نه داسي ژړل چې حروف ظاهر شي .

۱۷ / دَ بالغ سړي پهٔ زوره خندا کول یا عامه خندا کول .

۱۸ / دَ امام نه مخکښې کیدل وغیره .

نوټ:علمآؤددې نه علاوه د مانځه نورمفسدات هم ذکرکړي،لکه پهٔ نورالایضاح کښې اته شپیته(۶۸) مفسدات ذکردي ـ

♥دمونځ د مکروهاتُ بیان♦

نوټ:پۀ مانځه کښې څه کارونه مکراهِ تحریمي دي(چې داحراموته نزدې دي)اوڅه کارونه مکروهِ تنزیهي دي(چې دهغې پرخودل اولٰی دي) اګرچې علماۀډیرمکروهات ذکرکړي خوزۀ به درته یوڅوذکرکړم هغه یو کم دیرش / ۲۹ دي :

۱ ـ سدل : یعنی څادر پۀ داسی طریقه پۀ سر اچول چې دواړه طرفونه ئے زوړند وي یا واسکټ او چوغه پۀ خپلو اوږو داسي اچول چې پۀ لستونړو کښې ئي لاسونه نه وي ورکړي .

۲ ـ کپړي نیول یا راغونډول چې خاورو کښې اونه لګي .

۳ ـ دَ خپلو کپړو یا بدن سره لوبي کول .

۴ ـ پۀ داسي معمولی کپړو کښې مونځ کول چې دَ خلقو پۀ مجلس کښې پرے درته ځان ښه نه ښکاري .

۵ ـ پۀ خله کښې روپۍ یا پیسه یا بل څیز نیول چې د قرأت نه مجبوره نشی او که قرأت ورسره نشی کولے نو بیا خو بلکل مونځ نه کیږي .

۶ ـ دَ سستۍ او غفلت دَ وجه نه پۀ سرتوره مونځ کول .

۷ ـ پۀ داسي حالت کښې مونځ کول چې وړو یا لویو متیازو زور ورکړے وي .

۸ ـ د سر یا ګیري ویښتو لره غوټي ورکول .

۹ـ که دَ سجدي پۀ ځائے کښې کانړي وي هغه لري کول او که چرته سجده مشکله وي نو صرف پۀ یو ځل لري کولو کښې څه باک نشته.

۱۰۔ دَ ګوتو نه ټکونه ویستل یا د یو لاس ګوتي دَ بل لاس پهٔ ګوتو کښې ورکول .

۱۱۔ پهٔ مَلا یا پهٔ تشي ډُوډي باندي لاس ایښودل .

۱۲۔ دَ قبلے نه مخ اَړول یا آخوا دیخوا کتل .

۱۳۔ دَ سپي پهٔ شان کیناستل یعني خپي اودرول او پتونان خیټي سره او زنګونان سره لګول او لاسونه پهٔ زمکه ایښودل مکروه دي .

۱۴۔ د سږي د پاره پهٔ سجده کښې څنګلي پهٔ زمکه ایښودل مکروه دي .

۱۵۔ دَ داسي کس طرف ته مونځ کول چې دَ هغه مخ مونځ کونکي طرفته وي .

۱۶۔ دَ سلام جواب دَ سر یا د لاس پهٔ اشاره ورکول .

۱۷۔ بغیر د عذره پرلت وهل .

۱۸۔ ارګمے سره د طاقته نه بندول یا قصدًا ارګمي کول .

۱۹۔ سترګي بندول مګر دَ زړه لګولو دَ پاره بندول مکره نه دي .

۲۰۔ دَ امام دَ پاره پهٔ محراب کښې دَننه اُدریدل او که خپي ئے باهر وي نو مکروه نه دي .

۲۱۔ یوائے امام دَ پاره اوچت ځائے باندي اودریدل اوکه امام سره یو څو مقتدیان اوچت ولاړ وي نو بیا مکروه نه دي .

۲۲۔ د داسي صف نه روستو یوائي اودریدل چې خالي ځائے پکښې وي .

۲۳ ـ پهٔ داسي ګېړو کښې مونځ کول چې دَ ساه والا تصوير پرې وي .

۲۴ ـ پهٔ داسي ځائے کښې مونځ کول چې بره يا مخامخ يا ښې يا ګس يا دَ سجدي پهٔ ځائے کښې ئي تصوير وي .

۲۵ ـ پهٔ ګوتو باندي دَ آيتونو يا سورتونو يا دَ تسبيحاتو شمار کول .

۲۶ ـ څادر يا بله څه کپړه پهٔ ځان داسی راچول چې پهٔ جلتیَ سره ترے لاس نشي وتلے .

۲۷ ـ پهٔ مونځ کښې ستوماني ويستل .

۲۸ ـ دَ پټکي پهٔ وَل باندِ سجده کول .

۲۹ ـ پهٔ مونځ کښې څه خلاف سُنّت عمل کول .

نوټ: علمآء کرامودمانځه نورمکروهاتِ تحريمي اومکروهاتِ تنزيهي هم ذکرکړي ـ پهٔ نورالايضاح کښې دمونځ اووه اَويا(۷۷) مکروهات ذکردي ـ

## ♥دَ اودس بيان ♦

اے زما روره مسلمانه چې کله ته دَ مونځ کولو اراده اوکړي نو پهٔ پاک لوښي کښې به پاکي اُوبه راواخلي اول به لاسونه تر مړوندونو پوري اووينځې بيا به درى / ۳ ځله مخ اووينځې بيا به لاسونه تر څنګلو پوري اووينځې ، بيا به دَ سر او غوږونو مَسح اوکړي ، بيا به دَ واړه خپے تر ګيټو پوري اووينځې .

## ♥دَ اودس فرض ♦

ګلونو ماشومانو پهٔ اودس کښې څلور فرض دي دااِزده کړئ:

۱ ) دَ تندي دَ ويختو نه تر دَ زنے پوري او دَ يو غوږ نه تر بل غوږه پوري مخ اووينځئ .

۲ ) دواړه لاسونه سره دَ څنګلو اووينځئ .

۳ ) دَ سر څلورمه حصه مسحه کړئ .

۴ ) دواړه خپي سره دَ ګيټو اووينځئ .

♥ د اودس سنت ♦

اے دَ مدرسی دَ باغچي ګلونو پهٔ اودس کښې ديارلس / ۱۳ سنت دي دا هير نه کړئ :

(۱) نيت کول .

(۲) بِسۡمِ اللّٰه وئيل .

(۳) لاسونه دَ مړوندونو سره درې / ۳ ځله وينځل .

(۴) مسواک کول .

(۵) درې / ۳ ځله خُلے ته اوبه اچول .

(۶) درې ځله پوزې ته اوبه اچول .

(۷) دَ ږيري خلال کول .

(۸) دَ لاسونو او خپو دَ ګوتو خلال کول .

(۹) هر اندام درې / ۳ ځله وينځل .

(۱۰) يو ځل دَ ټول سر مسح کول يعني لوند لاس پرې راخکل .

(۱۱) دَ دواړو غوږونو مسح کول .

(۱۲) پهٔ ترتيب سره اودس کول .

(۱۳) پرله پسې اندامونه وينځل چې دَ يو اندام وُچيدو نه مخکښې بل اندام اووينځئ .

♥ دَ اودس دَ مستحبّاتو بيان ♦

ګلونو طالبانو دَ اودس مستحبّات هم ياد کړئ :

١ ـ دَ ښي طرف نه شروع کول او ځنو علمآء دیته سنت وئیلي دي او دا خبره مضبوطه ده .

٢ ـ دَ څټ مسح کول .

٣ ـ دَ اودس کارونه پخپله کول او دَ بل نه پکښې مدد نه اخستل .

۴ ـ دَ قبلې پهٔ طرف کیناستل .

۵ ـ پهٔ پاک او اُوچت ځائے باندي اودَس کول .

♥دَ اودس مکروهات ♦

اے چونړ شوییه طالبه د دي کارونو نه ځان ساته :

(١) پهٔ پلیت ځائے باندي اودس مه کوه .

(٢) پهٔ ښي لاس باندي پوزه مه پاکوه .

(٣) پهٔ اودس کښې دُنیوي خبري مه کوه .

(۴) دَ سنت طریقي نه خلاف اودس مه کوه دا کارونه مکروه دي .

(۵) پهٔ تیزه اوبه مخ ته مه وله .

اودس پهٔ کومو څیزنو ماتیږي ؟

اے زما عزتمندو محترمو مکّرمو اودس پهٔ اتو / ٨ څیزونو ماتیږي او دیته

♥نواقض وضوء ♦

( دَ اودس ماتونکي څیزونه) :

۱ ) وړې يا لوئے متيازے کول يا د دي دواړو لارو نه يو بل خيز وَتل .

۲ ) دَ روستو لارې نه هَوا وتل .

۳ ) دَ بدن نه وينه يا نَو وتلو سره بهيدل .

۴ ) پۀ ډکه خُله اُلټئ کول .

۵ ) پۀ ملاسته ډَډه وَهلو سره اوده کيدل .

۶ ) دَ بيمارئ يا بلي وجې نه بيهوشه کيدل .

۷ ) مجنون يعني ليونے کيدل .

۸ ) پۀ مونځ کښې پۀ برړق خندل .

### ♥دَ غسلو بيان ♦

اے د اسلام ځوانانو! چې کله تاسو د غټې بي اودسۍ يعنی جنابت نه غسل کوئ نو اول به دواړه لاسونه تر مړوندونو پوري اووينځئ ، بيا به استنجاء وکړئ او دَ بدن نه به نجاست حقيقي لري کړئ ، بيا به د مونځ پشان اودس اوکړئ ، بيا به پۀ ټول بدن باندي لړي اُوبه واچوئ او بدن به پۀ لاس باندي اومږئ ، بيا به ټول بدن باندي دري / ۳ ځله اُوبه واچوئ خُلے او پوزے ته به اُوبه هم واچوئ .

### ♥دَ غسل فرض ♦

پۀ غسل کښې درى /۳ فرض دي دا پۀ اهتمام سره کوئ :

١ ) خُلے ته اوبه واچوئ .

٢ ) بيا پوزے ته اوبه واچوئ .

٣ ) بيا پۀ ټول بدن اوبه اچول .

### ♥دَ غسل سنت ♦

پۀ غسل کښې پنځه / ۵ سنت دي :

١ ) دواړه لاسونه تر مړوندونو پوري اووينځئ .

٢ ) استنجاء اوکړئ او دَ بدن گنده حصه اووينځئ .

٣ ) بيا د پلتۍ د لرے کولو نيت اوکړئ .

۴ ) او دَ غسل نه مخکښې اودس اوکړئ .

۵ ) دري / ۳ ځله په ټول بدن باندي اوبه واچوئ دا کارونه سنت دے او د نبي علیه السلام په هره طریقه کښې دَ دنیا او آخرت کامیابي ده .

## ♥دَ غسل آداب ♦

دَ هر څیز د پاره آداب وي او دَ غسل د پاره هم آداب دي دا زده کړئ:

۱ ) په داسي ځائے کښې غسل کول چې هیڅ څوک دي نه ویني .

۲ ) خپل عورت ته به نه ګوري غسل کونکے .

۳ ) دَ غسل په وخت کښې به خبری نه کوي .

۴ ) خپلي پښې به په آخیره کښې وینزي .

۵ ) دَ غسل نه روسته به ځان په تولیه یا رومال باندي اوچ کړي .

۶ ) دَ غسل نه روسته به په نبي علیه السلام درود اوایي .

## ♥غسل په کومو څیزونو لازمیږي ♦

اے زما وروره په دین کښې شرم مه کوه چې کومه مسئله درته نه وي یاده نو د هغي تپوس کوه لکه مسئله دَ غسل شوه نو که ته سوال اوکړي چې غسل په کوم وخت کښې واجبیږي نو جواب ئي واوره چې غسل په مسلمان واجبیږي نو دا په دوه قسمه دے : ۱ ) حقیقي . ۲ ) حکمي .

**حقيقي :** لکه د سړي یا د ښځي نه پهٔ طریقه د ټوپ او شهوت مني اوځي که دا پهٔ حالت د ویښه وي او که پهٔ خوب کښې وي او دغه رنګي حیض او نفاس شو .

**حکمي :**لکه یو انسان دَ خوب نه رابیدار شو او مني یا مذي ئي پهٔ بدن یا کپړه ولیده او احتلام ورته یاد هم نه وي نو احتیاطًا به پهٔ دي باندي دَ غسل حکم کولے شي .

♥سنت غسل کوم دي♦

اے زما روره پهٔ دنیا پسي نا جوړه هله به ته سم شي چې پهٔ طریقه د محمّد صلي الله علیه و سلّم شي ، مسنون غسل څلور دي یادول ئي ډیر ضرور دي :

١ ) دَ جمعي د مونځ د پاره .

٢ ) د اخترونو دَ مونـ ځونو د پاره .

٣ ) د حج احرام تړلو د پاره .

۴ ) غسل د عرفي د پاره .

♥اِیْمَانِ مُجْمَل♦

**عقیل :** اےعباسه! ایمان مجمل خو راته واوروه .

**عباس :**وروره بلکل صحیح ده : اٰمَنْتُ بِاللهِ کَمَاهُوَ بِاَسْمَائِهٖ وَصِفَاتِهٖ وَقَبِلْتُ جَمِیْعَ اَحْکَامِهٖ اِقْرَارٌ بِالِّسَانِ وَتَصْدِیْقٌ م بِالْقَلْبِ.

**ترجمه :** ایمان مي راوړے دے پۀ الله تعالی څنګه چې هغه د خپلو نومونو او صفتونو سره دے او ما ده هغه ټول احکام منلي دي اقرار پۀ ژبه کوم او پۀ زړه تصدیق کوم.

♥ اِیمَانِ مُفَصَّل ♦

**احمد :** اے مسلمانه! وروره ایمان مفَصَّل څرنګه دے ؟

**حمّاد :** اٰمَنْتُ بِاللهِ وَمَلَائِکَتِهٖ وَکُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِوَالْقَدْرِ خَيْرِهٖ وَشَرِّهٖ مِنَ اللهِ تَعَالٰی وَالْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ .

**ترجمه :** ایمان مي راوړے دے پۀ الله رب العزّت او د هغه پۀ ملائکو او کتابونو او رسولانو او د قیامت پۀ ورځ او د الله تعالی د طرفه پۀ ښه او بد تقدیر باندي ا و د مرګ نه پس ژوند با ندي .

♥ د مونځ لفظي ترجمه ♦

اے زما د اسلام د ګلشن ګلونو! د مونځ لفظي ترجمي به ډيري شوي وي خو هر مسلمان بحیثیت مسلمان دا غواړي چې زما باقیات صالحات پاتي شي نو زۀ هم طالب د رضی اِلٰهی یم نو مونږه مونځ د هغه د نومونو او الفاظو سره ذکر کؤو ۔

♥ اول تکبير ♦

اَللّٰهُ اَکْبَرُ ۔ الله ډير لوئي دے

♥ ثناء ♦

سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَتَعَالٰى جَدُّكَ، وَلَا إِلٰهَ غَيْرُكَ

**ترجمه :** اے الله مونږ ستا د پاکوالي اقرار کوو او ستا صفتونه بيانوو او ستا نوم ډير برکت والا دے او ستا شان لوئي دے او ستا نه سيوا بل د عبادت لائق نشته .

♥ تَعَوُّذْ ♦

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

زۀ پناه غواړم پۀ الله سره د شيطان رټلي شوي نه .

♥ تَسْمِيَه ♦

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص پۀ نوم د الله چې عام مهربانه او خاص مهربانه دے شروع کوم .

♥ سُوْرَةُالْفَاتِحَةِ ♦

اَلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (١) الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ (٢) مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ (٣) إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ (٤) اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ (٥)

صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ (٦)غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ (٧)

**ترجمه :** ټول صفتونه الله سبحانه و تعالی لره دي چې د ټولو جهانونو پالونکے دے لوئي مهربان او ډير رحم واله دے مالك د ورځي د بدلي دے خاص ستا عبادت کؤو د بل چا نه کؤو او خاص ستا نه مدد غواړو دَ بل چا نه نه غواړو مضبوط کړي مونږ پۀ نيغه لار ، د

هغه کسانو لار چې تا پري انعام کړے دے ، نه لار د هغه کسانو چې غضب پري شويدے او نه لار د گمراهانو آمين الله دا دعاء زمونږ قبوله کړي .

## ♥سُوْرَةُ الْكٰفِرُوْنَ ◆

**بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیۡمِ**

قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ (١) لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ (٢) وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ (٣) وَلَا أَنَا عَابِدٌ مَا عَبَدْتُمْ (٤) وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ (٥) لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ (٦)

**ترجمه :**او وايه او كافرانو ، څه عبادت نه كوم پۀ هغه طريقه چې تا سو ئے كوئ نه تاسو عبادت كوئ پۀ هغه طريقه چې څه ئے كوم ، نه څه آئنده عبادت كوم پۀ هغه طريقه چې تاسو ئے كوئ ، او نه تاسو عبادت كوئ پۀ هغه طريقه چې څه ئے كوم ، تاسو له سزا ده ستاسو د دين او ما له بدله ده زما د دين .

## ♥سُوْرَةُ الْاِخْلَاصِ ◆

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيْمِ

قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ (١) اللَّهُ الصَّمَدُ (٢) لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ (٣) وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ (٤)

**ترجمه :**او وايه پغمبره شان دا دے الله دے يک يو ، الله دے بى نيازه ، نه دے د چا نه پيدا دے او نه دَ دنه څوک پيدا دى ، نشته دے الله پاك لره د الله پۀ مثل باندى يو تن .

## ♥سُوْرَةُ الْفَلَقِ ◆

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيْمِ

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ (١) مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ (٢) وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ (٣) وَمِنْ شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ (٤) وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ (٥)

**ترجمه :**ورته اووایه پناه غواړم په رب د شلونکی باندی ، د شر د هغی نه چی الله پیدا کړی ، او د شر د تیاري نه کله چی خوره شی ، او د شر د پوکو وهنکو نه په غوټو کښې ، او د شر د حسد کونکی نه کله چی حسد خکاره کي .

♥سُوْرَةُ النَّاسِ♦

بِسْمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيْمِ

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ (١) مَلِكِ النَّاسِ (٢) إِلَهِ النَّاسِ (٣) مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ (٤) الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ (٥) مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ (٦)

**ترجمه :**او وایه پناه غواړم په رب د خلقو باندی ، بادشاه د خلقو باندی ، حاجت رواه د خلقو باندی ، د شر د وسوسو اچونکی پټیدونکی نه ، هغه چی وسوسی اچوی په سینو د خقلو کښې، د پیریانو او د انسانانو نه.

♥تسبيح په رکوع کښې♦

سُبْحَانَ رَبِّیَ الْعَظِيْمِ ـ پاکې ده زما رب لره چې لوئ دے .

♥قومه کښې تسميع♦

سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَه/ قبلوي الله تعالی وینا ثناء د هغه چا چې هغه لره صفت وائي.

♥تحميد♦

رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ ـ اے ربه خاص تا لره صفت دے .

حَمْدًاكَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَكاً فيِ

♥ تسبیح په سجده کښې ♦

سُبْحَانَ رَبِّىَ الْاَعْلٰى / پاکې ده رب زما لره چې ډیراوچت دے .

په جلسه کې دا دعا رب اغفرلى درى کرته ویل

2 اللّٰهمَّ اغفِرلِى وارحَمنِى وَاهدِنِى وَعَافِنِى وَارزقنِى

♥ تَشَهُّدْيَا التَّحيَّاتْ ♦

اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوٰةُوَالطَّيِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِىُّ وَرَحْمَتُ اللهِ وَبَرَكَاتُـــهُ اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِيْنَ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ .

ټول د ژبې عبادتونه ، فعلى عبادتونه او مالي عبادتونه الله لره دي اے نبى صلى الله عليه وسلم په تا دي سلام وي او رحتمونه او برکتونه د الله دي ويسلام دي وي په مونږه باندي او د الله په نيکو بندگانو او زهٔ گواهي کوم چې محمد صلى الله عليه وسلم د الله بنده او رسول دے .

♥ دورد شریف ♦

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍوَعَلَ آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَّجِيدٌ، اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍوَّعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيمَ وَعَلٰى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَّجِيدٌ

♥دعاء ♦

اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا اٰتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً وَّفِی الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ

اے الله ! زمونږه ربه راکړي مونږه ته پۀ دنیا کښې توفیق د نیکئ او پۀ آخرت کښې بدله د نیکئ او بچ کړي مونږه د اُور د عذاب نه .

♥سلام ♦

اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ

پۀ تاسو دي د الله سبحانه و تعالی سلام او رحمت وي

♥د مونځ نه پس دعآء ♦

اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَ مِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَ الْاِکْرَامِ

اے الله !ته سلامتیا ورکونکے یے او سلامتیا صرف ستا د طرفه ملاویږي اے د لویی او عزت والا ته لوی برکت والا ئیے .

♥دعاء قنوت ♦

اَللّٰهُمَّ اِنَّانَسْتَعِیْنُكَ وَنَسْتَغْفِرُكَ وَنُؤْمِنُ بِكَ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْكَ وَنُثْنِیْ عَلَيْكَ الْخَيْرَ وَنَشْكُرُكَ وَلَا نَكْفُرُكَ وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَّفْجُرُكَ اَللّٰهُمَّ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَلَكَ نُصَلِّی وَنَسْجُدُ وَاِلَيْكَ نَسْعٰی وَنَحْفِدُ وَنَرْجُوْ رَحْمَتَكَ وَنَخْشٰی عَذَابَكَ اِنَّ عَذَابَكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ .

اے الله ! مونږه ستا نه مدد غواړو او ستا نه بخښنه غواړو او پۀ تا ایمان راوړو پۀ تا توکل کؤو او ستا ښه صفتونه بیانؤو او ستا (

پهٔ نعمتونو ) شکر کؤو او ستا نا شکري نه کوؤ اوجدا کيږو او پريګدو هغه څوک چې ستا نا فرمانې کوي اے الله مونږه صرف ستا عبادت کؤو او ستا د پاره مونځ کؤو او سجده کؤو او خاص ستا طرف ته کوشش کؤو او عاجزي کؤو او ستا د رحمت امید لرو او ستا د عذاب نه ویریږو یقینًا ستا عذاب کافرانو باندي انختونکے دے .

## ♥ د تیمّم بیان ♦

ای زما مسلمان وروره چې کله تا ته د اودس یا د غسل حاجت وي او اوبه درته نه میلاویږی ، یا درته میلاویږي لیکن د دي اوبو په استعمالولو درته د بیماری لګیدلو ویره ، یا د مرض زیاتیدلو ویره وي ، یا رسۍ او بوکه یعنی د کوهي نه د راویستلو سامان موجود نه وي ، یا درته د دشمن ویره وي ، یا درته په سفر کښې اوبه دَ یو میل په مسافت باندي وي نو پدي ټولو صورتونو کښې د اودس او غسل په ځائے تیمم کولے شي .

## ♥ د تیمّم طریقه ♦

په تیمم کښې نیت کول فرض دي یعنی اول به دا نیت کوي چې ځه د ناپاکۍ لري کولو ، یا د مونځ کولو د پاره تیمم کوم د نیت نه روسته به دواړه لاسونه ورغوي د ګوتو سره په پاکه ښاوره اووهی بیا به لاسونه وڅنډي او په مخ باندي به ئي راکاږي او څومره حصه چې په اودس کښې وینزلے شی په دغه همره حصه به لاس راکاږي بیا دویم ځل به هم لاس په خاورو اووهي او د لاسونو نه تر څنګلو پوري به ئي مسحه کړي او د ګوتو خلال به هم ورسره اوکړي ، دَ اودس او دَ غسل تیمم په مینځ کښې فرق نشته ، او کومه پاکي چې په اودس او غسل سره راځي دغه رنګي په تیمم سره هم راځي که چیرته شل کاله اوبه میلاو نشی هم تیمم وهلے شی .

♥تیمم پهٔ کومو ځیزونو ماتیږي ♦

زما وروره ښه پهٔ جور نظر ګوره چې پهٔ کومو څیزونو اودس ماتیږي نو پهٔ هغه تیمم هم ماتیږي ، پهٔ اوبو موندلو او د دي پهٔ استعمالیدلو قدرت لرل تیمّم ماتوي .

**مسئله :**که چرته پهٔ یو کس غسل فرض شی نو د اودس او غسل لپاره یو تیمم کافي دے ، د اودس او غسل د پاره یو نیت جدا جدا دوه کرته تیمّم کول لازم ندي .

♥د رکعتونو طریقه ♦

دپنځو مونځونو رکعتونه پدي طریقه دي

د سحر دَ مونځ رکعتونه (۴) څلور دي اول دوه (۲) سنت بیا دوه (۲) فرض .

د ماسپخین دَ مونځ دولس (۱۲) رکعتونه دي اول څلور (۴) سنت بیا څلور (۴)فرض بیا دوه (۲) سنت بیا دوه (۲) نفل .

د مازیګر د مونځ اته (۸) رکعتونه دي اول څلور (۴) سنت ( غیر مؤکّد ) بیا څلور (۴) فرض .

د ماښام د مونځ ووه (۷) رکعتونه دي اول دري (۳) فرض بیا دوه (۲) سنت بیا دوه (۲) نفل .

د ماسخوتن د مونځ وولس (۱۷) رکعتونه دي اول څلور (۴) سنت (غیر مؤکد ) بیا څلور (۴) فرض بیا دوه (۲) سنت بیا دوه (۲) نفل بیا دری (۳) وتر بیا دوه (۲) نفل .

## ♥ د جمعي مونځ ♦

د جمعي پۀ ورځ د ماسپخين پۀ وخت د ماسپخين د مونځ پۀ ځائے د جمعي مونځ کوئ چې د دي څوارلس رکعتونه دي اول څلور(۴) سنت بيا دوه (۲) فرض د امام سره بيا څلور(۴) سنت بيا دوه (۲) سنت بيا دوه (۲) نفل.

۱ )□**سئله :**د جمعی مونځ پۀ زنانوو فرض نه دے زنانه به د دي پۀ ځائے د ماسپخين مونځ کوي .

۲ )□**سئله :**د جمعي د مونځ د پاره جماعت ضروري دے بغير د جماعت نه نه ادا کيږي که چرته يو کس د امام سره د جمعي مونځ اونه کړي نو د دي پۀ ځائے دي د ماسپخين مونځ اوکړي .

۳ )□**سئله :**د فرض او وترو پۀ هيڅ حالت کښې د پريښودلو اجازت نشته د دي پريښودل ډيره لويه ګناه ده ، د وترو مونځ واجب دے د دي مرتبه فرض ته نزدي ده .

نقشه

| وقت | کل رکعت | فرض | سنت | نفل | واجب |
|---|---|---|---|---|---|
| سحر | څلور / ۴ | دوه / ۲ | دوه / ۲ | | |
| ماسپخين | دولس / ۱۲ | څلور / ۴ | سپږ / ۶ | دوه / ۲ | |
| مازيګر | اته / ۸ | څلور / ۴ | | څلور/۴ | |
| ماښام | اووه / ۷ | درى / ۳ | دوه / ۲ | دوه / ۲ | |
| ماسخوتن | وولس / ۱۷ | څلور / ۴ | دوه / ۲ | څلور/۴ | دري وتر/ ۳ |
| جمعه | څوارلس / ۱۴ | دوه / ۲ | شپږ / ۶ | دوه / ۲ | |

♥دمونځ نيت ♦

اے زما د اسلام رونوو او خويندو هيڅ يو مونځ بغير د نيت نه ادا کيږي نه ، چې څوک هم پهٔ تاسو کښې مونځ کوي نو د دي نيت کول فرض دي او نيت د زړه د ارادي نوم دے مثلًا پهٔ زړه کښې به نيت اوکړي چې د فلاني وخت څلور رکعته فرض يا څلور رکعته سنت ادا کوم ، که چرته د امام نه ورستو مونځ کول وي نو د امام د اقتدآء نيت هم کول ، پهٔ ژبه باندي نيت کول ضروري ندي که چرته دي پهٔ ژبه باندي نيت اوکړو نو داهم صحيح ده ، او پهٔ عربي کښې نيت کول ضروري ندي پهٔ خپله مورنۍ ژبه نيت اوکړئ ، مونږ د نموني پهٔ طور دوه / ۲ نيتونه ليکو ، د باقي مونـځونو نيت هم داسي کوئ .

♥د ماسپخين د څلورو ركعتونو د سنت نيت ♦

څلور ركعته سنت د ماسپخين نيت كوم خاص الله تعالى لره مخ مي د كعبي شريف پۀ طرف باندي اَللّٰهُ اَكْبَرُ

♥د ماسپخين د څلورو ركعتونو د فرض نيت ♦

د څلور ركعتو فرضو د ماسپخين نيت كوم خاص الله تعالى لره روسته د دي امام نه مخ مي د كعبي شريف پۀ طرف باندي اَللّٰهُ اَكْبَرُ ، كه چرته ځان لره مونځ كوي نو د امام نه شاته نيت به نه كوي .

**سئله :**پۀ پنـ ځه وخته مونـ ځونو كښي صرف فرض پۀ جماعت سره ادا كولے شي او پۀ رمضان شريف كښي دَ وترو مونځ هم پۀ جماعت سره ادا كولے شي .

## ♥ اذان ♦

اے ګلونو ماشومانو د فرض مونځ د پاره اذان کول سنت دي د اذان الفاظ دا دي .

| |
|---|
| اَللّٰهُ اَكْبَرُ ط اَللّٰهُ اَكْبَرُط اَللّٰهُ اَكْبَرُط اَللّٰهُ اَكْبَرُ |

الله د ټولو نه لوئي دے الله د ټولو نه لوئي دے

الله د ټولو نه لوئي دے الله د ټولو نه لوئي دے

| |
|---|
| اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُط اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ |

زۀ ګواهي کوم چې د الله نه علاوه بل څوک د عبادت لائق نشته

زۀ ګواهي کوم چې د الله نه علاوه بل څوک د عبادت لائق نشته

| |
|---|
| اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ ط اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ |

زۀ ګواهي کوم چې محمد صلی الله علیه و سلم د الله استازے دے

زۀ ګواهي کوم چې محمد صلی الله علیه و سلم د الله استازے دے

| |
|---|
| حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ ط حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ |

راشئ د مونځ طرف ته راشئ د مونځ طرف ته

| |
|---|
| حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ ط حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ |

راشئ د کامیابۍ طرف ته راشئ د کامیابۍ طرف ته

| |
|---|
| اَللّٰهُ اَكْبَرُ ط اَللّٰهُ اَكْبَرُ |

الله د ټولو نه لوئي دے الله د ټولو نه لوئي دے

| لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ |
|---|

د الله نه علاوه بل څوک د عبادت لائق نشته

## ♥طريقه د اذان♦

په دواړو غوږونو کښې به د شهادت دواړه ګوتي کيږدي او قبلي ته به مخ کړي او په اوچت آواز سره به اذان اوکړي

د حَيَّ عَلٰی الصَّلٰوةِ په وخت کښې به ښي طرف ته مخ کړي او د حَيَّ عَلٰی الْفَلَاحِ په وخت کښې به ګس طرف ته مخ کړي

د سحر په اذان کښې به د حَيَّ عَلٰی الْفَلَاحِ نه روستو اَلصَّلٰوةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ (مونځ غوره دے دَ خوب نه ) دوه / ۲ ځله اووائي .

## ♥دعا بعد الاذان ♦

اول به درود شريف اوائي بيا : اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلَاةِ الْقَائِمَةِ اٰتِ مُحَمَّدَا نِ الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَّحْمُوْدَا نِ الَّذِىْ وَعَدْتَّهُ ( بخارى )

ترجمه : اے ربه د دي بلني پوره او د مونځ ولاړيدونكي وركړي محمد صلى الله عليه و سلم ته نزدي والے او غوره والے او راپورته كړي هغه لره پۀ پۀ ځائے ستائلے شوي كښې هغه چې تا ورسره وعده كړي ده .

تنبيه : پۀ دي دعا كښې دا لفاظ (والدرجة الرفيعه ورزقنا شفاعته يوم القيامة ) د حديث نه ثابت نه دي. ( حاشيه ترمذي ص ۵۴ )

## ♥تكبير يا اقامت ♦

كله چې فرض مونځ ته اودريږي نو د مونځ شروع كولو نه مخكښې به يو كس دغه كلمات اوائي چې كوم پۀ اذان كښې دي دغه ته اقامت او تكبير وائي پۀ تكبير كښې به د حَيَّ عَلٰى الْفَلَاحِ نه بعد قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوةُزياتوي دا لفظ پۀ تكبير كښې زياتي دے چې پۀ اذان كښې نشته څوک چې اذان كوي هغه ته مُؤَذِّن وائي او څوک چې تكبير كوي هغه ته مُكَبِّر وائي .

### ♥ دَ دُعاء فضيلت ♦

دَ نبي اکرم صلّی الله علیه و سلّم ارشاد دے چې : دعاء د مومن اسلحه ده دَ دین ستن ده او دَ آسمان او زمکي رنړا ده ، پۀ یو بل حدیث کښې راځي چې نبي علیه السلام فرمائي چې : دَ الله تعالی پۀ نزد د دعاء نه بل څیز دَ وقعت والا نشته .

### ♥ دَ قصر مونځ بیان ♦

اے زما مسافره وروره چې ته د اته څلویښ / ۴۸ میله سفر کولو نیت دَ خپل ښار یا کلي علاقي نه اوکړي او ته اوځي ستا د پاره دَ واپس راتللو پوري نو ته به د ماسپخین ، مازیګر او ماسخوتن د څلورو / ۴ رکعتونو پۀ ځائے دوه / ۲ رکعته کوي البته که چیرته پۀ سفر کښې ته دَ ۱۵ ورځو یا زیات حصاریدلو نیت اوکړي نو پوره څلور واړه رکعتونه به کوي ، دا اته څلویښت / ۴۸ میله سفر که ته پیدل کوي که پۀ ګاړي کوي او که پۀ جهاز کښې کوي که هر قسم سورلۍ وي نو دغه حکم ئي دے .

### ♥ دَ قصر مونځ نیت ♦

دَ دوه / ۲ رکعته د قصر مونځ نیت کوم  د نن ماسپخین ، مازیګر یا ماسخوتن خاص الله تعالی لره مخ مي د کعبي شریف پۀ طرف باندي اَللّٰهُ اَکْبَرُ .

□**سئله :**دَ قصر مونځ صرف پۀ ماسپخین ، مازیګر او ماسخوتن فرض مونځونو کښې کیږي د سحر او ماښام پدیکښې نه کیږي ، او دَ فرض نه علاوه پۀ نورو مونځونو کښې هم نه کیږي .

□**سئله :**که چرته مسافر انسان پهٔ داسي امام پسي روسته مونځ اوکړي چې د هغه د پاره قصر جائز نه وي نو مسافر به هم د دي سره پوره مونځ کوي .

♥سجده سهوه ♦

اے زما عاجز مونـ ځګوزاره وروره چې کله ستا نه څه واجب پاتي شي يا پهٔ واجب او فرضو کښې تاخير يعني روسته والے وشي يا يو فرض د خپل ځائے نه لري کړي مخکښې اوکړي يا يو فرض دوباره اوکړي نو سجده سهوه واجب شوه او دا د دي هيريدلو پټے شوه او که چرته قصدًا دا کار اوکړي نو بيا پهٔ سجده سهوه کار نه کيږي مونځ د سر نه کول لازم دي ، او که چرته يو فرض پاتي شي نو د دي پوره کيدل پهٔ سجده سهوه سره نه کيږي.

♥دَ سجده سهوي طريقه ♦

د سجده سهوي طريقه دا ده چې پهٔ آخري رکعت کښې به دَ (التَّحِيَاتُ)نه تر ( عَبْدُهُ وَ رَسُوْلُهُ ) اولولي او ښي طرف ته به سلام وګرزوي بيا به دوه / ٢ سجدي اوکړي پهٔ هر ځل سجدي کولو کښې به اَللّٰهُ اَکْبَرُ اوائي ، دوه / ٢ سجدي به اوکړي او کيبه ني او دويم ځل به بيا پوره ( التَّحِيَاتُ ) اوائي او د دينه بعد به درود شريف او دُعا اولولي بيا به دواړه طرف ته سلام وګرزوي .

♥دَ تراويح بيان ♦

□**سئله :**دَ رمضان المبارك پهٔ مياشت د سړو او زنانو د پاره شل / ٢٠ رکعته تراويح دَ ماسخوتن دَ مونځ نه روسته ادا کول سنت مؤکّده دي ، حديث : نبي عليه السلام ارشاد فرمائيلے دے چې چا د

رمضان المبارك پۀ شپو کښې قيام اوکړو د هغه روستي گناهونه به معاف شي .

**سئله :**د سړو د پاره د تراويح مونځ پۀ جماعت سره ادا کول سنت على الكفاية دي ، که چيرته محلّي والا ځانله ځانله تراويح کوي او دَ جماعت سره ئي بلکل نه کوي نو ټول محلّي والاگناهنگار دي ، او که چيرته دَ جماعت سره تراويح ادا شوي او يو کَس ځانله اوکړي نو دا کَس خو گناهنگار نه دے مگر دَ جماعت د فضيلت نه محروم شو .

**سئله :**د تراويح مونځ شل/۲۰ رکعاته پۀ لسو سلامونو سره ادا کړئ او دَ هر څلورو رکعاتونو روسته لګ شان ارام کول مستحب دي .

**سئله :**دَ رمضان شريف پۀ پوره مياشت کښې يو ځل قرآن شريف پۀ تراويح کښې ختمول سنت دي .

**سئله :**پۀ نا بالغ پسي روسته دَ تراويح مونځ کول صحيح نه دي .

**سئله :**پۀ ځني ځايونو کښې قرآن شريف پۀ ۱۵ يا ۲۰ ورځو کښې يا د دينه روسته او د مياشتي د ختميدو نه مخکښې ختم شي نو ډير خلق د دينه روسته دَ ترايح مونځ پريږدي دا غلط کار دے ، ځکه چې دَ قرآن کريم ختم کول مستقل دَ ثواب څيز دے او پوره مياشت تراويح کول ځانله مستقل سنت دي .

**♥دَ تراويح نيت ♦**

زۀ نيت کوم دَ دوه / ۲ رکعتو دَ مونځ سنت تراويح دَ الله دَ پاره مخ مي د کعبي شريفي پۀ لوري پدي حاضر امام پسي اَللّٰهُ اَکْبَرُ .

## ♥ دَ اخترونو بیان ♦

خوشحالي او خفګان الله پيدا کړي دَ انسان دَ امتحان لپاره دَ دغه خوشحالو نه يوه خوشحالي دَ اختر هم ده د دي څه احکام دي دا زده کړئ :

١ ) اول غسل کول .

٢ ) مسواك کول .

٣ ) نوي کپړي اغوستل او يا پاکي کپړي اغوستل ليکن سړے او ښـځه دي دَ ريښمو کپړي نه اغوندي .

۴ ) خوشبو لګول .

۵ ) پۀ عيد ګاه کښې د اخترونو مونځ کول .

۶ ) عيد ګاه ته پيدل تلل .

٧ ) پۀ يوه لاره تلل او پۀ بله لاره راتلل يعنی لار بدلول .

٨ ) دَ اختر د مونځ نه مخکښې پۀ کور کښې يا پۀ عيد ګاه کښې نفل مونځ نه کول که پۀ کور کښې د اختر د مانځه نه روسته اوشي نو څه نقصان نه دے .

٩ ) دَ ورکوټي اختر دَ مونځ نه مخکښې کهجوره يا خوګ بل څيز خوړل .

١٠ ) که چرته درباندي صدقه الفطر واجب وي نو دا دَ اختر دَ مونځ نه مخکښې ورکول .

١١ ) پۀ غټ اختر کښې د مونځ نه روسته جلد نه جلد قرباني کول او بهتره دا ده چې پدي ورځ دَ قربانۍ دَ غوښی نه مخکښې څه ونه خوري .

## ♥ دَ اخترونو دَ مونځ طريقه ♦

**نيت :** زۀ نيت کوم دَ دوو رکعتونو د واجب مونځ د ورکوټي اختر يا غټ اختر سره دَ واجب شپږو تکبيرونو پدي حاضر امام پسي مخ مي د کعبي شريف پۀ طرف اَللّٰهُ اَکْبَرُ .

د نيت نه روسته به امام او مقتديان د غوږونو پوري لاسونه اوچت کړي او اَللّٰهُ اَکْبَرُ به وائي دا تکبير تحريمه شو دَ دينه روسته به سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ تر آخره پوري اوائي سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ نه بعد به امام زائد تکبيرونه اوائي او مقتدي به هم د دي سره تکبيرونه اوائي پۀ زائد تکبيرونو کښې به هر مرتبه دَ تکبير تحريمه پشان دواړه لاسونه د غوږونو پوري اوچتئي ، او د هر تکبير نه روسته به دومره اودريږي چې دري / ۳ کرته پکښې سُبْحَانَ اللهِ اوائي دَ دريم تکبير نه روستو به لاسونه نه پريږدي بلکه او به ئي تړي او امام به اَعُوْذُ بِاللهِ او بِسْمِ اللهِ تر آخره پوري اولولي ، سورة فاتحة او سورة دي اولولي ، او مقتدي پۀ خاموشۍ سره اوري ، بيا به رکوع او سجده اوکړي پۀ دويم رکعت به امام اول فاتحه او يو سورة اولولي دَ دينه روسته به دري / ۳ تکبيرونه امام او مقتديان ټول وائي او پۀ هر ځل به لاس غوږونو ته رسوي او پريږدي به ئي بيا پۀ څلورم تکبير به لاس نه اوچتوي رکوع ته به لاړ شي او دَ عام مونځ پۀ شان دي باقي مونځ پوره کړي .

**مسئله :** د ورکوټي او غټ اختر مونځ پۀ سړو باندي واجب دے د دي پريښودل ګناه ده البته که چيرته پۀ شرعي سفر کښې وي چې د چا بيان د قصر پۀ مونځ کښې تير شوے دے نو د اختر پۀ مونځ کښې د شرکت نه کولو ورته اجازت دے .

**مسئله :** ډير خلق د اختر پۀ ورځ خطبه پريږدي او ځي يا دَ خطبي پۀ وخت ناست وي خو خبري کوي دا ټول دَ شريعت خلاف دي .

## ♦تکبير تشريق♥

اے زما وروره چې کله د وړوکي اختر مانځه لره ځې نو په لاره کښې په دمه آواز سره تکبير تشريق وايه ، او چې کله د غټ اختر مونځ لره ځې نو په اوچت آواز تکبير تشريق وايه ، تکبير تشريق دا دي اَللّٰهُ اَکْبَرُ ؕاَللّٰهُ اَکْبَرُ ؕ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ اللّٰهُ اَکْبَرُ اَللّٰهُ اَکْبَرُ ؕ وَ لِلّٰهِ الْحَمْدُ .

الله ډير زيات لوئي دے الله ډير زيات لوئي دے د الله نه سيوا بل څوک د عبادت لائق نشته او الله ډير زيات لوئي دے ، الله ډير زيات لوئي دے ، او د الله د پاره صفتونه دي .

**سئله :**دَ ذي الحجّه دَ نهم تاريخ دَ سحر مونځ نه روسته تر ديارلسم / ۱۳ تاريخ د مازيګر مونځ پوري د هر فرض مونځ نه روسته په اوچت آواز يو ځل تکبير تشريق وئيل واجب دي ، که امام نه هير شي مقتدي دي په خپله شروع کړي دَ امام انتظار دي نه کوي .

**سئله :**زنانه به دا تکبير په دمه آواز سره لولي .

### (څلويښت احاديث)

نَحْمَدُهُ وَ نُصَلِّيْ عَلٰى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْمِ ! اَمَّا بَعْدُ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ وَ ابْنِ مَسْعُوْدٍ وَّ ابْنِ عَبَّاسٍ وَّ مَعَاذِ بْنِ جَبَلٍ وَّ اَبِیْ سَعَيْدِنِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ: اَنَّ رَسُوْلُ اللهِ صَلّٰى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَالَ : مَنْ حَفِظَ عَلٰى أُمَّتِيْ أَرْبَعِيْنَ حَدِيثًا يَنْفَعْهُمُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ بِهَا قِيْلَ لَهُ: ادْخُلْ مِنْ أَيِّ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ شِئْتَ.

**ترجمه :**نبي عليه السلام فرمائي : چې کوم کَس زما د امت د فائدي د پاره د دين کار د پاره څلويښت / ۴۰ حديثونه واورول او ياد ئي کړل الله ربّ العزت به ئي د قيامت په ورځ د عالمانو او شهيدانو په جماعت کښې پاڅوي ، او دا ئي اوفرمائيل چې د جنت په کومه دروازه چې غواړي داخل دي شي ، الله دي پديکښې مونږه راولي ، آمين .

دَا حديثونه مونږه د زاد الطالبين نه اخذ کړي دي ، دَ دي حديثونو حِفْظًا يادول ضروري دي وَ اللهُ الْمُيَسِّرُ لِلصَّعَابِ .

| |
|---|
| اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَاتِ (رواه بخاريومسلم) |
| يقينا ثواب د عملونو پۀ نيت دے . |
| (۲) اَلدِّيْنُ النَّصِيْحَةُ (رواه مسلم) |
| دين سراسر خير خواهي ده . |
| (۳) اَلْمَجَالِسُ بِالْاَمَانَةِ ( رواه ابوداؤ) |
| د مجلسونو خبري او حالات پۀ أمانت سره دي . |

| |
|---|
| (۴) اَلدُّعَآءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ (رواه ترمذي) |
| دعا مغز د عبادت دے. |
| (۵)اَلْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِّنَ الْاِيْمَانِ (رواه بخاري ومسلم) |
| حياء د ايمان څانګه ده . |
| (۶) اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ اَحَبَّ (رواه بخاري ومسلم) |
| سړے به د هغه چا سره وي چې د چا سره ئې مينه وي پۀ دنيا او آخرت کښي . |
| (۷) اَلْخَمْرُ جُمَّاعُ الْاِثْمِ (رواه رزين) |
| شراب څکل د ټولو ګناهونو جرړه او أصل دے . |
| (۸) اَلْبَادِئُ بِالسَّلَامِ بَرِئٌ مِّنَ الْكِبَرِ (رواه بيهقي) |
| شروع کونکے پۀ سلام پاک وي د ځان لوئے ګڼړلو نه . |
| (۹) اَلدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤمِنِ وَجَنَّةُ الْكَافِرِ (رواه مسلم) |
| دينا د مؤمن د پاره جيل دے او د کافر د پاره جنت . |
| (۱۰) السِّوَاكُ مَطْهَرَةٌ لِّلْفَمِّ وَمَرْضَاةٌ لِّرَبِّ. |
| مسواك پاکونکے د خلې دے او خوشحاله کونکے د رب دے. |
| (۱۱) اِنَّ الرَجَلَ لَيُحْرَمُ الرِزْقَ بِالذَّنْبِ يُصِيْبُهُ (ابن ماجه) |
| بے شکه سړے خامخا محروموله شی د رزق نه د خپلی ګناه پۀ وجهکومه چه هغه کوی |
| (۱۲) اَلطُّهُوْرُ شَطْرُ الْاِيْمَانِ (رواه مسلم) |

| |
|---|
| پاکوالے د ایمان حصه ده . |
| (١٣) اَلظُّلْمُ ظُلُمَاتٌ يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ (متفق عليه) |
| ظلم به تياري وي د قيامت پۀ ورځ . |
| (١٤) اَلْقُراٰنُ حُجَّةٌ لَكَ اَوْ عَلَيْكَ . (رواه مسلم) |
| قرآن به يا ستا د پاره دليل وي او يا به تا باندي خلاف دليل وي . |
| (١٥) اَلنِّسَآءُ حَبَآئِلُ الشَّيْطَانِ (رواه رزين) |
| زنانه د شيطان جالونه دي . |
| (١٦) اَلطَّاعِمُ الشَّاكِرُ كَالصَّائِمِ الصَّابِرِ (رواه ترمذي) |
| خوراک کونکے شکر ايستونکے پشان د روژه دار صبر ناک دے. |
| (١٧) اَلْاِقْتِصَادُ فِي النَّفَقَةِ نِصْفُ الْمَعِيْشَةِ (رواه بيهقي) |
| ميانه روي کول پۀ خرچه کښي نيم ژوند دے . |
| (١٨) اَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَّا ذَنْبَ لَهُ (رواه إبن ماجه) |
| توبه ايستونکے د ګناه نه داسې دے لکه چي ګناه ئې نه وي کړے . |
| (١٩) اَلْغِنَاءُ يُنْبِتُ النِّفَاقَ فِي الْقَلْبِ كَمَا يُنْبِتُ الْمَاءُ الزَّرْعَ (رواه بيهقي) |
| ټنګ ټکور زرغونئ منافقت پۀ زړه کښې لکه چې زرغونئ اوبه فصل لره. |
| (٢٠) اَلتَّاجِرُ الصَّدُّوْقُ الْاَمِيْنُ مَعَ النَّبِيِّيْنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَاءِ (ترمذي) |
| رښتونے او امانتدار تاجر به د پيغبرانو رښتيا ويونکو او شهيدانو سره وي . |

| |
|---|
| (٢١)اٰيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ اِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وَاِذَا وَعَدَ اَخْلَفَ وَاِذَ أُتُمِنَ خَانَ (رواه البخاري) |
| نښې د منافق[٣] دري دي. کله چې خبري کوي نو دروغ به وائې او کله چي وعده وکړي نو خلاف د لوظ به کوي او چې کله ورسره امانت کيخودلے شي نو خيانت به پکښي کوي . |
| (٢٢) اَلْخَلْقُ عِيَالُ اللهِ فَاَحَبُّ الْخَلْقِ اِلَى اللهِ مَنْ اَحْسَنَ اِلٰى عِيَالِهِ (بيهقي) |
| خلق د الله عيال دے او محبوب د خلقو نه الله ته هغه څوک دي چې د الله عيال سره مينه کوي . |
| (٢٣) اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِّسَانِهِ وَيَدِهِ |

| |
|---|
| حقیقي مسلمان هغه دے چې بچ وي مسلمانان د تکلیف د ژبې د ده نه او د لاس د ده نه . |
| (۲۴) وَالْمُجَاهِدُ مَنْ جَاهَدَ نَفْسَهُ فِيْ طَاعَةِ اللهِ . |
| او مجاهد هغه څوک دے چې جهاد اوکړي د خپل نفس سره د الله تعالى په تابعدارئ کښې . |
| (۲۵) وَالْمُجَاهِرُ مَنْ هَجَرَ الْخَطَايَا وَالذُّنُوْبَ . |
| او مهاجر هغه څوک دے چې واړه او لوئ ګناهونه پرېږدي. |
| (۲۶) مَطْلُ الْغَنِيِّ ظُلْمٌ (رواه ابوداؤد) |
| ټال مټول د مالدار ظلم دے . |
| (۲۷) سَيِّدُ الْقَوْمِ فِي السَّفَرِ خَادِمُهُمْ (رواه بيهقي) |
| مشر د قوم به په سفر کښې د دي قوم خادم وي . |

| |
|---|
| (۲۸) حُبُّكَ الشَّيْئَ يُعْمِيْ وَيُصِمُّ (رواه ابوداؤد) |
| مینه کول ستا د یو څیز سره ړوندول او کنړول کوي. |
| (۲۹) طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيْضَةٌ عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ . (رواه بيهقي وابن ماجه) |
| د علم طلب کول فرض دي په هر مسلمان باندي . |
| (۳۰) اَصْدَقُ الرُّؤْيَا بِالْاَسْحَارِ . (رواه ترمذي) |
| ډیر ریښتونے خوب لیدل په چرګ بانګي کښې وي یعني د پیش مني وخت کښې وي . |
| (۳۱)خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْاٰنَ وَعَلَّمَهُ(رواه البخاري) |
| غوره یا تاسو کښې هغه کس دے چې قرآن زده کړي او نورو ته ئې اوښائې . |
| (۳۲)اِنَّ الْوَلَدَ مَبْخَلَةٌ مَجْبَنَةٌ ( مشكواة) |
| بے شکه بچے د بخل د بزدلی سبب وی. |
| (۳۳) فَقِيْهٌ وَّاحِدٌ اَشَدُّ عَلَى الشَّيْطَانِ مِنْ اَلْفِ عَابِدٍ . (رواه ترمذي) |
| یو فقیه عالم ډیر زیات سخت دے په شیطان د ګمراه کولو د زرو عبادت کونکو نه . |
| (۳۴) طُوْبٰى لِمَنْ وُجِدَ فِيْ صَحِيْفَتِهِ اِسْتِغْفَارًا كَثِيْرًا . (رواه ابن ماجه) |
| خوشحالي ده د هغه چا د پاره چې د هغه په عمل نامه کښې استغفار |

| |
|---|
| ډير بيا موندلي شي . |
| (۳۵) رِضَى الرَّبِ فِىْ رِضَى الْوَالِدِ وَسَخَطُ الرَّبِّ فِىْ سَخَطِ الْوَالِدِ (رواه الترمذي) |
| د رب خوشحالي د پلار په خوشحالئ کبني ده او د رب خفګان د پلار په خفګان کبني دے . |
| (۳۶) تُحْفَةُ الْمؤْمِنِ اَلْمَوْتُ . ( رواه بيهقي) |
| د مؤمن تحفه مرګ دے . |
| (۳۷) يَدُ اللهِ عَلَى الْجَمَاعَةِ . (رواه الترمذي) |
| د الله لاس په جماعت باندي وي ځنګه چې د هغه شان سره مناسب وي. |
| (۳۸) مَثَلُ الّذِىْ يَذْكُرُ رَبَّهُ وَالّذِىْ لَا يَذْكُرُ رَبَّهُ مَثَلُ الْحَىِّ وَالْمَيِّتِ .(رواه البخاريومسلم) |
| د هغه کس مثال چې الله يادوي او هغه کس چې الله نه يادوي پشان د ژوندي او مړ دے . |
| (۳۹) لَا اِيْمَانَ لِمَنْ لَا اَمَانَةَ لَهُ (رواه البيهقي) |
| نشته ايمان د هغه کس چې امانت ورلره نه وي . |
| (۴۰) اِنَّ السَّعِيْدَ لِمَنْ جُنِّبَ الْفِتَنَ . |
| يقينا نيک بخته هغه کس دے چې فتنو نه جدا اوساتلے شي . |

نَحْمَدُهُ وَنُصَلِّى عَلٰى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْمِ :

أما بعد : زما عزتمندو مسلمانانو رونړو د نبی علیه السلام پهٔ هره طریقه کښې د مسلمانانو د دنیا او آخرت کامیابي ده، یوه طریقه دعا هم ده، نبی علیه السلام فرمائي : « چي دعا د مؤمن اسلحه ده ، د دین ستن ده، او د زمکې او آسمان رنړاه ده » . او دا هم فرمائي : « چې د الله تعالی پهٔ نزد د دعا نه بل څیز د وقعت والا نشته » خو چې کوم کار د آدابو موافق اوشي نو هغه کامیاب وي نو د دعا هم آداب دي .

♥ د دعا آداب ♦

۱۔ د حرام لباس او خوراک نه خامخا ځان ساتل ځکه چې د حرام خور دعا نه قبلیږي. لکه پهٔ حدیث کښې چې راځي « چي یو کس به الله ته لاسونه اوچت کړي وي ببر سر به ئې، گرد غبار به پري پروت وي خپي ابله خپي به وي یا رَبِّ یا رَبِّ به وائې خو هر څه به ئې حرام وي نو دعا به ئې څنګه قبوله شي » .

۲۔ پهٔ اخلاص سره دعا غوښتل .

۳۔ د دعا نه مخکښي څه صدقه ورکول دا هم یو بهتر عمل دے .

۴۔ که اودس سره دعا اوشي نو خه به قبوله شي .

۵۔ قبلے ته مخامخ کیناستل .

۶۔ د دعا د شروع کولو نه مخکښي د الله تعالی حمدونه او صفتونه کول او پهٔ اول او پهٔ آخر د عا کښي پهٔ رسول الله ﷺ درود وئیل.

۷۔ د دعا پهٔ آخر کښي « آمین » وئیل .

۸ . پهٔ انتهائي عاجزئ سره دعا غوښتل چي زړه پکښي غافل نه وي بلکه توجه ئې وي .

۹. پهٔ خپله دعا کښي الله تعالی ته ژړل .

۱۰. الله تعالی ته د هغه اسماء حسنی او صفات وسیله کولو سره دعا کول "یَا رَحْمٰنُ یَا رَحِیْمُ یَا غَفَّارُ یَا مَالِكَ الْمُلْكِ یَا ذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ" یا نور صفتونه شو .

۱۱. پهٔ دعا کښي هغه الفاظ خصوصًا استعمالول کوم چې متضمن دي اسم اعظم د الله سبحانه لره، دارنګه هغه الفاظ استعمالول کوم چي دَ نبی علیه السلام نه نقل دي .

۱۲. دعا پهٔ یقین سره غوښتل ضروري دي .

۱۳. رغبت او شوق سره دعا کول پکار دي .

۱۴. د یو حاجت د پاره بار بار دعا کول او نا امیدي نه اختیارول .

۱۵. یو دعا دري ځله مکرر لوستل پکار دی مثلا : «رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوْبَنَا ، رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوْبَنَا، رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوْبَنَا » .

۱۶. پهٔ دعا کښي جلتي نه کول چې ډیري دعا ګانې مې اوکړي او قبولې نه شوي نو پري ئیږدي داسي به نه کوي. نور آدابه هم شته، مونږه به روزمره دعا ګانې ذکر کوؤ، او دا دعا ګانې به د سوال او جواب پهٔ طریقه ذکر کوؤ سره د ترجمي نه .

♥ د سحر دعا ♦

**عبدالله :** اے زما روره چي كله ته صبا كړي نو كومه دعا وائې ؟

**عبدالرحمٰن :** اَللّٰهُمَ بِكَ اَصْبَحْنَا وَبِكَ اَمْسَيْنَا وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نَمُوْتُ وَاِلَيْكَ النُّشُوْرُ .(رواه ابو داؤد والترمذي وابن حبّان) .

**ترجمه :** اے الله ! ستا پۀ قدرت مونږ سحر كړو، او ستا پۀ قدرت مونږ بيگاه كړو، او ستا پۀ قدرت مونږ ژوند تيروؤ، او ستا پۀ علم او قدرت به مړه كيږو .

♥ د بيگاه دعا ♦

**زبير :** رور جانه ! د بيگاه نه كومه دعا وائې ؟

**حمزه :** دا دعا وايم ! اَللّٰهُمَ بِكَ اَمْسَيْنَا وبِكَ اَصْبَحْنَا وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نَمُوْتُ وَاِلَيْكَ الْمَصِيْرُ .(رواه ابو داؤد والترمذي ومسند احمد)

**ترجمه :** اے الله ! مونږه ستا پۀ قدرت بيگاه كوؤ او ستا پۀ قدرت مو صبا كړو او ستا پۀ قدرت مونږ ژوند تيروؤ، او ستا پۀ قدرت به مړه كيږو ، او ستا طرف ته زمونږ در واپس كيدل دي .

♥ د خوب نه د رابيداريدلو دعا ◆

**قا□م :** اے ملګريه ! چې کله د خوب نه رابيدار شی نو کومه دعا وائې؟

**ذاكر :** اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَحْیَانَابَعْدَ مَا اَمَاتَنَا وَاِلَیْهِ النُّشُوْرَ. (ر□اه البخاري6314□□سلم) .ابود□د5049

**ترجمه :**شکر دے هغه الله لره چې راژوندي ئې کړو مونږه لره پس د مرګ (يعني خوب) زمونږ نه او هغه طرف ته زمونږ پورته کيدل دي.

♥ د بد خوب ليدلو دعا ◆

**□اجد :** اے کامرانه ! چې کله بد خوب اويني نو کومه دعا وائې ؟

**كا□ران :** اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُبِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ الشَّیْطَانِط(رواه البخاري وابوداؤد)

**ترجمه :**اے الله ! زۀ پناه غواړم پۀ تا سره د شر د دي خوب نه او د شر د شيطان نه .

**فائده :** حديث کښې راځي که چرته تا بد خوب اوليدو نو ګس طرفته دري/٣ ځله لاړي توکه او دغه اووايه .

♥ د جامو اغستلو دعا ♦

**عمران :** کله چي جامې واغوندي نو کومه دعا وائې ؟

**فر�ان :** اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ مِنْ خَيْرِهِ وَخَيْرِ مَا هُوَ لَهُ وَاَعُوْذُبِكَ مِنْ شَرِّهِ وَشَرِّ مَا هُوَ لَهُ (ر�اه التر�ذي��سند احمد�صححه ابن حبان) .

**ترجمه :** اے الله ! زۀ ستا نه خير د دي جامې غواړم او هغه خير چې دا جامه ورلره جوړه ده او پناه غواړم پۀ تا سره د شر د دي نه او د هغه شر نه چې دا جامه ورله جوړ ه ده .

♥ بل چا ته د جامو د مبارکۍ ورکولو دعا ♦

**ابوبکر :** عمرَ چې زۀ کله نوي جامې واغوندم نو کومه دعا به راته کړي؟

**عمر :** تُبْلِیْ وَيُخْلِقُ اللهُ تَعَالٰی .(رواه ابوداؤد والترمذي) .

**ترجمه :** زوړ کړه دا لباس او الله تعالی به بل (نوي) درکړي .

♥ د جامو د ويستلو دعا ♦

**حمزه :** ما ته د جامو د ويستلو دعا زده کړه شکريه ؟

**حا�د :** ډيره ښه ده « بِسْمِ اللهِ الَّذِيْ لَا اَلٰهَ اِلَّا هُوَ »(رواه ابن السني رقم ٢٧٣)

**ترجمه :** پۀ نوم د هغه الله چې د هغه نه سيوا بل څوک د عبادت حقدار نشته .

♥بيت الخلاء ته د ننوتلو دعا ♦

**ابرار :** اے طالب جانه ! چي كله بيت الخلاء ته ننوځي نو كومه دعا به وائي ؟

**قا□م :** دا دعا به وائي : اللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُبِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ
(رواه البخاري جلد/١ ص ٢٢۶ وابوداؤد رقم ۴/۵ والترمذي)

**ترجمه :**زۀ پناه غواړم پۀ تا د پليتئ او شيطانانو نه .

♥د بيت الخلاء نه د راوتلو دعا ♦

**□ميع الله :** او چې كله څوک راوځي نو كومه دعا به وائي ؟

**غفران :** داسي به وائي ! غُفْرَانَكَ ط (رواه احمد ۶/ ۱۵۵ وابوداؤد وابن ماجه ) .

**ترجمه :**( اے الله ! زۀ ستا نه د بخښنې سوال كوم ) .

♥ د اوداسه دعا ګانې ♦

**صابر :** مؤمن بنده چې کله اودس شروع کوي نو کومه دعا به وائې؟

**صادق :** صرف "بِسْمِ اللهِ" به وائې . (رواه البيهقي والنسائي)

**ترجمه :**شروع کوم پۀ نوم د الله تعالی .

۲-سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَيْكَ.(رواه ابن السني رقم ۳۰ والحاكم ۱/ ۵۶۴)

**ترجمه :**پاکي ده تا لره اے الله ! او صفتونه دي تا لره ، زۀ ګواهي کوم چې نشته سوا ستا نه بل څوک حقدار د عبادت، بخښنه غواړم ستا نه او توبه اوباسم تا ته .

**فائده :** دا دعا به د اودس نه فارغيدو پۀ وخت کښې وائې .

♥ د اودس نه روستو دعا ♦

**طارق :** چې اودس نه فارغ شي نو کومه دعا به وائې ؟

**صار :** نبی علیه السلام دا دعا ښودلے ده "اَشْهَدُاَنْ لَّااِلٰهَ اِلَّااللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ"ط (رواه مسلم۱۲۲/۱ والنسائي)

**ترجمه :**زۀ ګواهي کوم چې د الله نه سوا بل لائق د عبادت نشته او ګواهي کوم د دي چې محمد ﷺ د الله بنده او د هغه رسول دے.

♥ مسجد ته د داخليدو او وتلو دعا ګانې ♦

**ا تاذ :** بچو چې کله جمات ته داخليږئ نو کومه دعا به وائې ؟

**شاګردان :** استاذ جې داسي به وايو **:**بِسْمِ اللهِ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ اللّٰهُمَّ افْتَحْ لِىْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ" . (رواه ابن السني رقم : ٨٧) .

**ترجمه :**پهٔ نوم د الله شروع كوم اے الله ! رحمت راوليږي پهٔ محمد ﷺ باندي . اى الله پرانزي ما ته دروازي د رحمت خپل .

**ا□تاذ :** او چې كله راوځئ د مسجد نه نو كومه دعا به لولې ؟

**شاګردان :** اَللّٰهُمَّ اِنِّىْ اَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِك ط **(ر□اه□سلم□ابوداؤد) .**

**ترجمه :**اے الله ! زهٔ ستا نه ستا د مهربانئ سوال كوم .

♥كور نه د بهر وتلو دعا ♦

**عدنان :** چې ته كله د كور نه راوځې نو كومه دعا وائې ؟

**نعمان :** بِسْمِ اللهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ ط

(رواه ابو داؤد ٩٥ والترمذي رقم ٣٤٢٢ وابن حبّان٢٣٧٥)

**ترجمه :**پهٔ نوم د الله شروع كوم او توكل مې كړے پهٔ الله باندي نيشته د ګناه نه اوړيدل او نه د نيكئ توفيق وركول مګر پهٔ مدد د الله تعالى سره.

**٢-**اَللّٰهُمَّ اَنِّىْ اَعُوْذُبِكَ اَنْ اَضِلَّ اَوْ اُضَلَّ اَوْ اَزِلَّ اَوْ اُزَلَّ اَوْ اَظْلِمَ اَوْ اُظْلِمَ اَوْ اَجْهَلَ اَوْ يُجْهَلَ عَلَىَّ . (رواه ابو داود رقم ٩٤/٥ والترمذي) .

**ترجمه :**اے الله ! زهٔ پناه غواړم پهٔ تا سره د دينه چې څوك ګمراه كړم يا زهٔ ګمراه كړے شم ، يا زهٔ اوخويږم يا بل اوخويوم يا ظلم اوكړم يا پهٔ ما ظلم اوشي يا زهٔ چا سره نا پوهي اوكړم يا ما سره نا پوهي اوشي .

## ♥د كور د داخليدلو دعا ♦

**عبيدالله :** اے ملګريه چې کله د مدرسي نه کور ته ننوځي نو ته کومه دعا وائې ؟

**عابد :** چې كله زۀ لاړ شم نو اول کور کښي سلام کوم، او بيا دا دعا وايم "بِسْمِ اللهِ وَلَجْنَا وَبِسْمِ اللهِ خَرَجْنَا وَعَلَى اللهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا"(رواه الترمذي).

**ترجمه :**زۀ ستا نه ښائسته داخليدل او ښائسته راوتل غواړم خاص پۀ نوم د الله ننوځو، او خاص پۀ نوم د الله راوځو او پۀ الله باندي چې زمونږ رب دے ځان سپارو .

♥ د بازاد د تګ دعا ◆

**عبد الغفار :** رور جانه چي کله ته بازار ته ځي نو کومه دعا وائې ؟

**عبدالجبّار :** " بِسْمِ اللّٰهِ

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ خَيْرَ هٰذِهِ السُّوْقِ وَخَيْرَمَا فِيْهَا وَاَعُوْذُبِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّمَا فِيْهَا اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُبِكَ اَنْ اُصِيْبَ فِيْهَا يَمِيْنًا فَاجِرَةً اَوْ صَفْقَةً خَاسِرَةً ط

**ترجمه :** خاص پۀ نوم د الله داخيلږم اے الله ! زۀ ستا نه سوال د خير د دي بازار کوم او څه چې پۀ دي بازار کښي دي او ځه پناه غواړم پۀ تا سره د شر د دي بازارنه ,او د شر د هغه څه نه چه پۀ دی بازار کښی دی اے الله زۀ پناه غواړم پۀ تا سره د دي خبري نه چي زۀ د دروغو قسم اخورم يا پۀ معامله کښي تاوان اوکړم .

♥ د اوده کيدو ذکرونه او دعا ګانې ◆

**عبدالمنان :** اے زما مسلمان روره چي ته کله اوده کيږي نو کومي دعا ګانې او ذکرونه کوي ؟

**عبد الکريم :** روره اول اودس اوکړم بيا بستره اوڅندم، آية الکرسي او آخري دري سورتونه دري/۳ دري/۳ ځله اوايم. بيا سبحان الله/۳۳ کرته الحمد لله/۳۳ کرته، الله اکبر/۳۴ کرته وايم. بيا دعا اوايم.

اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ اَمُوْتُ وَاَحْيَا(رواه البخاري ۲/ ص ۹۳۴ ومسلم /۲ ۳۴۸) .

**ترجمه :**اے الله ! زۀ ستا پۀ نوم مړ کيږم او ژوندے کيږم .

بيا پهٔ ښي طرف څملم او دا دعا وايم : "بِاسْمِكَ رَبِّيْ وَضَعْتُ جَنْبِيْ وَبِكَ اَرْفَعُهُ اِنْ اَمْسَكْتَ نَفْسِيْ فَارْحَمْهَا وَاِنْ اَرْسَلْتَهَا فَاحْفَظْهَا بِمَا تَحْفَظُ بِهِ عِبَادَكَ الصَّالِحِيْنَ" ط ( رواه البخاري ۲/ ۹۳۵ ومسلم ۲/ ۳۴۹) .

**ترجمه :**ستا پهٔ نوم مې کيښودو اړخ خپل اے ربه ! او ستا پهٔ نوم به ئې پورته کوم، که واخسته تا روح زما نو رحم اوکړه پهٔ هغې او که راپرے دِخودو (روح زما) نو حفاظت ئې اوکړه پهٔ هغه څه چې ته پرې د خپلو نيک بندګانو حفاظت کوې .

♥د زيارة القبور دعا ګانې ♦

**عاصم** : اے رور جانه ! چې کله ته پهٔ مقبره تيريږې نو کومه دعا وائې ؟

**عابد :** اَلسَّلامُ عَلَيْكُمْ اَهْلَ الدِّيَارِ مِنَ الْمُوْمِنِيْنَ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَاِنَّا اِنْ شَاءَاللهُ بِكُمْ لَاحِقُوْنَ نَسْئَلُ اللهَ لَنَا وَلَكُمْ الْعَافِيَةَ ط (رواه مسلم ۱/۳۱۴) .

**ترجمه :**سلامتيا دې وې پهٔ تاسو اے کورونو والا مؤمنانو، او مسلمانانو او مونږه کلهچې د الله تعالی اراده اوشي تاسو پورې پيوسته کيدونکې يو، د الله تعالی نه ځان د پاره او تاسو د پاره جوړوالے غواړو.

♥د کافرانو پهٔ قبرونو د ورتيريدو پهٔ وخت دعا ♦

**رضوان :** ملګريه چې کله د کافر پهٔ قبر تيريږې نو کومه دعا به وائې؟

**هشام** : دا دعا وايم ! " اَبْشِرُوْا يَا كُفَّارَ بِالنَّارِ " ط (راواه ابن السني ومجمع الزوائد) .

**ترجمه :**خوشحاله شئ اے کافرانو پهٔ اور د جهنم باندې .

♥د قرض نه د خلاصیدلو دعا ♦

**کاشف :** اے روره ! چي کله ته قرض دارے شي نو پهٔ کومه دعا به قرض خلاصوي ؟

**عثمان :**اَللّٰهُمَّ اكْفِنِىْ بِحَلَالِكَ عَنْ حَرَامِكَ وَاَغْنِنِىْ بِفَضْلِكَ عَمَّنْ سِوَاكَ ط (رواه الترمذي رقم ۳۸۱۷ والكلم الطيّب ۱۱۶)

**ترجمه :**اے الله ! كافي شي زما پهٔ حلالو ستا د حرامو نه او بے پرواه کړي ما پهٔ خپله مهربانئ سره د هغه چا نه چي ستا نه سيوا دي .

♥د قرض د واپس كولو دعا ♦

**عبدالعزيز :** چې كله ته قرض وركوى مالك ته نو ته به كومه دعا ورته وائې ؟

**عبدالرحمن :** " بَارَكَ اللهُ لَكَ فِىْ اَهْلِكَ وَمَالِكَ ط" (رواه ابن السنى وابن ماجه)

**ترجمه :**الله تعالى دي ستا پهٔ أهل او مال كښې بركت واچوي.

♥د مصيبت زده شخص ليدو پهٔ وخت دعا ♦

**يمان :** چې كله ته يو مصيبت زده كس اووينې نو كومه دعا پكار ده ؟

**يا□ر :** "اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ عَافَانِىْ مِمَّا ابْتَلَاكَ بِهٖ وَفَضَّلَنِىْ عَلٰى كَثِيْرً مِمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيْلاًط" (رواه الترمذي وابن ماجه ۳۸۹۲) .

**ترجمه** :شکر دے هغه الله لره ! چې بچ کړے يم زۀ د هغه مصيبت نه چې ته ئې پرې اخته کړے ئې. او غوره کړے ئې يم پۀ ډيرو خلقو پۀ غوره والې سره .

♥ د نوي مياشتي د ليدو دعا ◆

**اکرا** : زاهد الله د نوي مياشتي د ليدلو دعا څنګه ده ؟

**زاهد** : " اَللّٰهُمَّ اَهِلَّهُ عَلَيْنَا بِالْيُمْنِ وَالْاِيْمَانِ والسَّلَامَةِ وَالْاِسْلَامِ وَالتَّوْفِيْقِ لِمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى رَبِّىْ وَرَبُّكَ اللهُ ط" ( الترمذي ۲ / ۱۸۳ ، احمد ۱ / ۱۶۲ )

**ترجمه** :اے الله! راوخيژے دا پۀ مونږه باندې پۀ برکت او ايمان او سلامتيا او اسلام او توفيق د هغه عملونو چې ستا ورسره مينه ده او ته پرې خوشحاليږې .

♥ د مسلمان بيمار د عيادت دعا ◆

**عبد الغفار** : اے روره جانه! چې کله د مسلمان رور بيمار پرسي کوؤ نو کومه دعا به وايو ؟

**عبدالقهار** : " لَا بَاْسَ طَهُوْرٌ اِنْ شَاءَ اللهُ ط "(رواه البخاري۲/۸۴۵) .

**ترجمه** :باك نيشته ، دا بيمارې پاکونکے ده ستا ګناهونو لره انشاءالله .

♥ د ماشومانو د دمولو دعاء ◆

**نعمان** : چې کله ماشومان دموې نو کومه دعا پکار ده ؟

**عفّان** : "اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّةِ مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَ هَامَّةٍ وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ لَّامَّةٍ ط" (رواه البخاري ۱/۴۷۷ ومشکاة ۱/۱۳۴)

**ترجمه :**پناه غواړم په کلماتو د الله تعالی باندي چې پوره دے د هر شیطان نه او د هر ضرري حیوان نه او د هري سترګي نه چې راجمع کونکے ده شر لره .

♥کله چې بیمار د خپل ژوند نه نا امیده شي ♦

**عفّان :** کله چې بیمار د خپل ژوند نه نا أمیده شي نو کومه دعا به وائې ؟

**نقاد الله : " اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِى وَارْحَمْنِى وَاَلْحِقْنِى بِالرَّفِيقِ الاَعْلٰى** (رواه البخاري).

**ترجمه :**اے الله ! ما ته بخښنه اوکړي او په ما رحم اوکړي او ما د اوچتو (درجاتو والا) ملګرو سره یو ځائے کړي .

♥د سورلۍ دعا ♦

**عبد الناصر :** ملګریه د ګاړي د ختلو دعا راته اوائې ؟

**عبد الجلیل :** اول به"سُبْحَانَ الَّذِىْ سَخَّرَلَنَا هذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِيْنَ وَاِنَّااِلٰى رَبِّنَاَلَمُنْقَلِبُوْنَ ط" بیا اَلْحَمْدُ للهِ ۳/ بیا اَللّٰهُ اَكْبَرُ دري۳/ بیا سُبْحَانَكَ اِنِّىْ ظَلَمْتُ نَفْسِىْ فَاغْفِرْلِىْ فِاِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اَنْتَ ط.

( رواه الترمذي رقم/ ۳۶۹۱ ، ابوداؤد رقم /۲۳۴۲)

**ترجمه :**پاکې ده تا لره یقینا ما په خپل ځان باندي ظلم کړے دے پس ما ته بخښنه اوکړه یقینا هیڅوک ګناهونه نشي معاف کولے سیوا ستا نه .

♥د خوراک نه روستو دعا ♦

**زبیر :** ابوذره د خوراک نه روستو کومه دعا وائې ؟

**ابوذر :** "اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَطْعَمَنِيْ هذَا الطَّعَامَ وَرَزَقَنِيْهِ مِنْ غَيْرِحَوْلٍ مِّنِّىْ وَلَا قُوَّةٍ" (رواه ابو داؤد رقم/۴۰۲۳ وسنده صحيح) .

**ترجمه :**صفتونه د کمال هغه الله لره دي چې راکړے دے ما ته دا طعام، او روزي ئې راکړه ما ته بغير د طاقت زما نه .

**۲**.اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ اَطْعَمَ وَسَقٰى وَسَوَّغَهُ وَجَعَلَ لَهُ مَخْرَجًا (رواه ابو داؤدوابن حبان)

**ترجمه :**صفتونه د کمال خاص الله لره دي چې خوراک ، څکاک ئې راکړو او تيرئے کړو ځما او لاره د وتلو ئې ورلره اوګرځوله .

♥ ميلمه به کور والا ته دا دعا کوي ♦

**طارق :** ورورىه ميلمه به کوربه ته څه وائې ؟

**شفيع الله :** اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِيْمَا رَزَقْتَهُمْ وَاغْفِرْ لَهُمْ وَارْحَمْهُمْ(رواه مسلم)

**ترجمه :**اے الله ! برکت واچوي دَ دوئې د پاره په هغه څه کښي چې تا ورکړي دي دوئې ته او بخښنه ورته اوکړه او رحم پري اوکړي .

**۲**.اَللّٰهُمَّ اَطْعِمْ مَنْ اَطْعَمَنِىْ وَاسْقِ مَنْ سَقَانِىْ(رواه مسلم۲/۱۸۴) .

**ترجمه :**اے الله ! خوراک ورکړي هغه چا ته چي ما ته ئې خوراک راکړو او څکاک ورکړي هغه چا ته چي ما ته ئې څکاك راکړو .

♥د پیو (شودو) څکلو دعا ♦

**ر ح الله :** رور جانه ! د پیو دَ څکلو دعا څه ده ؟

**در :** " اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيْهِ وَزِدْنَا مِنْهُ " (راه ابن السني رقم/۴۷۴)

**ترجمه :** اے الله ! برکت واچوي مونږ ته په دي کښي او د دینه زیات راکړي مونږ ته .

**حبّ الله :** حبیب الله د نوي میوي د خوراک څنګه دعا ده ؟

**حبیب الله :** اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيْ ثِمَارِنَا وَبَارِكْ لَنَا فِيْ مَدِيْنَتِنَا وَبَارِكْ لَنَا فِيْ صَاعِنَا وَمُدِّنَا .(رواه الترمذي رقم/۳۶۹۹ وابن ماجه)

**ترجمه :** اے الله! برکت واچوه په میوؤ زمونږ کښي او برکت واچوي مونږه لره په ښار زمونږ کښي او برکت واچوه مونږه لره په دړئ او په سیر زمونږ کښي .

♥د روژه ماتې (افطار) دعا ♦

**شاګرد :** استاجي د روژه ماتې په وخت به کومه دعا وایم ؟

**اتاذ :** ذَهَبَ الظَّمَأُ وَابْتَلَّتِ الْعُرُوْقُ وَثَبَتَ الْاَجْرُ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى .

(رواه ابوداؤد رقم ۲۳۵۷ ومشکوة ۱/۱۷۵ وسنده حسن)

**ترجمه :** تنده ختمه شوه او لامده شو رګونه او ثابت شو ثواب ان شاء الله.

♥بازار ته د داخلیدو په وخت دعا ♦

**ریَّان :** یار چي کله بازار ته ځو نو کومه دعا به وایو ؟

**ابرار :** دا دعا به وایو ! لَاالٰهَ اِلَّااللّٰہُ وَحْدَہٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ , لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ , يُحْيِیْ وَيُمِيْتُ وَهُوَ حَیٌّ لَا يَمُوْتُ بِيَدِهِ الْخَيْر وَهُوَ عَلٰی كُلِّ شَيْیٍٔ قَدِيْرٌ

(رواه الترمذي رقم/۳۶۶۸)

**ترجمه :**نشته دے حقدار د بندګئ سوا د الله نه ، يو دے شريك ئې نشته، خاص هغه لره بادشاهي ده او خاص هغه لره صفتونه د کمال دي، او په لاس د هغه کښې خير دے او هغه په هر څه قدرت والا دے .

♥د غم خفګان او پريشانئ دعا ګانې◆

**حذيفه :**استاذ جې د پريشانئ په وخت کومه دعا لوستل پکار دی؟

**استاذ :**لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْعَظِيْمُ الْحَلِيْمُ ، لَا اِلٰهَ اِلَّااللّٰہُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ رَبُّ السَّمٰوٰت وَرَبُّ الْاَرْضِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيْمِ ط

(رواه البخاري 6345) .

**ترجمه :**نشته حقدار د بندګئ سوا د الله نه، چې مالك د لوئ عرش دے او نشته دے حقدار د بندګئ سوا د الله نه، چې رب د آسمانونو او رب د زمكې دے او رب د عرش عزتمند دے .

۲ ـيَا حَیُّ يَا قَيَّوْمُ بِرَحْمَتِكَ اَسْتَغِيْثُ (رواه الترمذي رقم/۳۴۳۲)

**ترجمه :**اے ژوندي ذاته ! اے تدبير کونکې ذاته ستا په رحمت زۀ امداد طلب کوم .

## ♥ د ټولو مصيبتونو علاج ♦

**حنظله :**اے زما مسلمان روره د مصيبت د ختمولو دعا به راته اوښائې؟

**على :**ولې نه دا دعا وايه : اَللّٰهُمَّ اَحْسِنْ عَاقِبَتَنَا فِىْ الْاِمُوْرِ كُلِّهَا وَاَجِرْنَا مِنْ خِزْىِ الدُّنْيَا وَعَذَابِ الْآخِرَةِ **(ر□اه احمد□□جمع الز□ائد١٠/١٧٨□قال رجاله□قا□)** .

**ترجمه :**اے الله ! زمونږ انجام ښه کړه پۀ ټولو کارونو کښې او مونږه اوساته د دنيا د شرم نه او د آخرت د عذاب نه .

♥ د تکلیف پهٔ وخت کښې دعا ♦

**طالب :** مولانا صاحب د تکلیف پهٔ وخت به کومه دعا وایم ؟

**عالم :**دا دعا وایه ! حَسْبُنَا اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ عَلَى اللهِ تَوَكَّلْنَا (رواه ابن حبان ٢/ ٩٥ مشكوة)

**ترجمه :**کافي دے زمونږ د پاره الله تعالى او ډیر ښه ذمه وار دے او خاص پهٔ الله مونږه ځان سپارلے دے .

♥ د باران د غوښتلو دعا ♦

**ریحان :**زما زړه غواړي چي د باران دعا زده کړم ؟

**ریاض :**بلکل دا خو آسانه ده ! اَللّٰهُمَّ اسْقِ عِبَادَكَ وَبَهَائِمَكَ وَانْشُرْ رَحْمَتَكَ وَاَحْيِ بَلَدَكَ الْمَيِّتَ(رواه ابو داؤد رقم ١١٧٦) .

**ترجمه :** اے الله ! خړوبه کړي بندګان خپل او چار پایان خپل او خور کړه رحمت خپل او ژوندے کړي خپل اوچ ښار .

♥ د تیزي هوا چلیدو پهٔ وخت دعا ♦

**عبدالمنان :**چي کله هوا تیزه شي نو څه وئیل پکار دي ؟

**راج :**اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ خَيْرَهَا وَخَيْرَمَا فِيْهَا وَخَيْرَ مَا اُرْسِلَتْ بِهِ وَاَعُوْذُبِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّمَا فِيْهَا وَشَرِّمَا اُرْسِلَتْ بِه . (رواه مسلم ١/ ٢٩٤) .

**ترجمه :**اے الله ! زهٔ سوال کوم ستا نه د خیر د دي هوا ، او د هغه خیر چي دي هوا کښي دے او هغه خیر چې دا هوا پري رالیږلې شوي ده. او پناه غواړم پهٔ تا سره د شر د دي او د هغه شر نه چي پهٔ دي کښي دي او د هغه شر نه چې دا پري رالیږلے شویده .

♥ کله چي باران شروع شي ♦

**عبد الغفور :** د باران د شروع کيدو پۀ وخت به کومه دعا وائې ؟

**عبد الود د :** اَللّٰهُمَّ صَيِّبًا نَافِعًا ط(رواه البخاري ۱/۱۴۰) .

**ترجمه :** اے الله ! ډير باران اوکړي او فائده مند ئې اوګرځوي .

♥ او د باران نه بعد به دا الفاظ وائې ♦

مُطِرْنَا بِفَضْلِ اللهِ وَرَحْمَتِهِط(رواه البخاري ۱/ ۱۴۱ ومسلم ۱/۸۳) .

**ترجمه :** پۀ مونږه باندي باران اوشو د الله پۀ فضل او د هغه پۀ رحمت سره .

♥ د باران د ودريدو دعا ♦

**بلال :** رور جانه ! د باران د ودريدو دعا به راته زده نه كړې ؟

**حمزهٔ :** بلكل ولې نه ! اَللّٰهُمَّ حَوَالَيْنَا وَلَا عَلَيْنَا اَللّٰهُمَّ عَلَى الْآكَامِ وَالظِّرَابِ وَبُطُوْنِ الْاَوْدِيَةِ وَمَنَابِتِ الشَّجَرِ (رواه البخاري ۱/۱۳۸ ومسلم ۱/۲۹۴) .

**ترجمه :**اے الله ! زمونږه نه اخوا ديخوا ئې اوكړه او پهٔ مونږه ئې مه كوه. اے الله ! پهٔ ډيركو او پهٔ كندو او پهٔ ځايونو د رازرغويندو د ونو او بوټو كښې ئې اوكړه .

♥ د اسمان د غراري پهٔ وخت دعا ♦

**شاګرد :** استاذ جي چې كله آسمان غريږي نو زهٔ ويريږم دعا راته اوښائي ؟

**استاذ** : ډيره ښه ده دا دعا وايه ! سُبْحَانَ الذِّیْ يِسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحِمْدِهِ وَالْمَلَائِكَةُ مِنْ خِيْفَتِهِ ط (رواه البيهقي ۳/۳۶۲ وطا ۳/۱۵۳) .

**ترجمه :**پاكې ده هغه لره چې تسبيح وائې رعد ملائك سره د صفتونو د هغه نه او نور ملائك (ئې هم وائې) د هغه دَ ويري د وجې نه .

۲ ـاَللّٰهُمَّ لَا تَقْتُلْنَا بِغَضَبِكَ وَلَا تُهْلِكْنَا بِعَذَابِكَ وَعَافِنَا قَبْلَ ذٰلِكَ ط (رواه الترمذي ۲/۱۸۳)

**ترجمه :**اے الله ! مونږه مه وژنه پهٔ غضب خپل او مونږه مه هلاك كوه پهٔ عذاب خپل او عافيت راكړې مخكښې د هغه نه .

♥سفر ته د رخصتولو په وخت دعا◆

**سافر :** ملګريه چي کله زهٔ پهٔ سفر باندی ځم نو کومه دعا به راته کوي؟

**قيم :** اَسْتَوْدِعُ اللهَ دِيْنَكَ وَاَمَانَتَكَ وَخَوَاتِيْمَ عَمَلِكَ. (رواه الترمذی رقم ۳۶۸۵ ابوداؤد ۲۶۰۰)

**ترجمه :** زهٔ سپارم الله ته دين ستا او امانت ستا او آخري عملونه ستا.

♥سفر نه د واپس کيدو دعا◆

**عبدالناصر :** عبد الباسط چي کله د سفر نه واپس شو نو کومه دعا به وايو ؟

**عبد الباسط :** دا دعا وايه ! لَااِلٰهَ اِلَّااللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ , لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ , وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْئٍ قَدِيْرٌ آئِبُونَ تَائِبُوْنَ عَابِدُوْنَ سَاجِدُوْنَ لِرَبِّنَا حَامِدُوْنَ ط صَدَقَ اللهُ وَعْدَهُ وَنَصَرَ عَبْدَهُ وَهَزَمَ الْاَحْزَابَ وَحْدَهُط(رواه مسلم ۱/ ۴۳۵)

**ترجمه :** د الله نه سوا بل حقدار د عبادت نشته يو ذات دے شريک نه لري ده لره بادشاهي ده او ده لره ثناء ده او دے پهٔ هر څه قادر دے، واپس کيدونکي يو مونږه توبه ويستونکي يو مونږه، عبادت کونکي يو مونږه ، سجده کونکي يو خپل رب ته ، حمدونه ويونکي يو د هغه، رشتنے کړه الله وعده خپله او مدد ئې اوکړو د بنده خپل ، او شکست ئې ورکړو ډلو ته يواځي .

♥د آئينه د کتلو دعا◆

**محمد :** احمدَ د آئينه د کتلو دعا خو تا ته ياده ده ؟

**احمد :** آو دا دعا ده : اَللّٰهُمَّ اَنْتَ حَسَّنْتَ خَلْقِیْ فَحَسِّنْ خُلُقِیْ ط

**ترجمه :**اے الله ! تا زما شکل ښائسته پیدا کړے دے نو زما اخلاق هم ښائسته کړي .

♥د دعا د قبلیدو ذریعه♦

**طالب العلم :** استاذ محترم ! د دعا د قبلیدو دعا راته زده کړئ شکریه ؟

**استاذ :** بچیه دا دعا به وائې ! اَللّٰهُمَّ اَنِّیْ اَسْئَلُكَ بِاَنِّیْ اَشْهَدُ اَنَّكَ اَنْتَ اللهُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ الْاَحَدُ الصَّمَدُ الَّذِیْ لَمْ یَلِدْ وَلَمْ یُوْلَدْ وَلَمْ یَکُنْ لَّهٗ کُفُوًا اَحَدٌ.(رواه ابوداؤد والترمذي)

**ترجمه :**اے الله ! زهٔ تا نه سوال کوم پهٔ دي وسیله چې زهٔ ګواهي ورکوم چي ته الله ئې، یواځي او بے حاجته ئې هغه ذات چې نه د ده نه څوک پیدا دي او نه دا د چا پیدا دے او نیشته ده لره مثل (برابر) هیڅوک.

♥د استخاري دعا♦

**صابر :** روریه ! ما د استخاري پهٔ تفصیل پوهه کړه جزاك الله ؟

**شاکر :** ډیر ښه ده اول دا زده کړه چي د استخاري دعا به نبی علیه السلام : خپلو صحابوو ته پهٔ ډیر اهتمام سره خودله لکه څنګه چي د قرآن کریم یو سورت به ئې دوئي ته خودلو ، او دا به ئې فرمائیل : کله چي یو کس پهٔ تاسو کښي د یو کار اراده وکړي که هغه دنیاوي کار وي او که د دین وي، نو دوه رکعته مونځ دي اوکړي او بیا دي دا دعا اوائې او د خوب لیدل او د شپي وئیل ورلره شرط نه دي .

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْتَخِیْرُكَ بِعِلْمِكَ وَاَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ وَاَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِیْمِ فَاِنَّكَ تَقْدِرُ وَلَا اَقْدِرُ وَتَعْلَمُ وَلَا اَعْلَمُ وَاَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ، اَللّٰهُمَّ اِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ اَنَّ هٰذَا الْاَمْرَ خَيْرٌ لِّیْ فِیْ دِیْنِیْ وَمَعَاشِیْ وَعَاقِبَةِ اَمْرِیْ وَعَاجِلِهٖ وَآجِلِهٖ فَاقْدُرْهُ لِیْ وَيَسِّرْهُ لِیْ ثُمَّ بَارِكْ لِیْ فِيْهِ، وَاِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ اَنَّ هٰذَا الْاَمْرَ شَرٌّ لِّیْ فِیْ دِیْنِیْ وَمَعَاشِیْ وَعَاقِبَةِ اَمْرِیْ وَعَاجِلِهٖ وَآجِلِهٖ فَاصْرِفْهُ عَنِّیْ وَاصْرِفْنِیْ عَنْهُ وَاقْدُرْ لِیَ الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ اَرْضِنِیْ بِهٖ

•(رواه البخاري ۱/۱۵۶) •

**ترجمه :** اے الله ! زۀ طلب کوم ستا نه ، ستا پۀ علم باندي، او قدرت طلب کوم ستا نه ستا پۀ قوّت، او غواړم ستا لویه مهرباني ځکه ته طاقت والا ئې او زۀ طاقت والا نه یم، او ته پوهیږې او زۀ نه پوهیږم او ته پوهه ئې پۀ پټو څیزونو اے الله ! که چرته تا ته معلومه وي چې دا کار زما د پاره غوره دے پۀ دین او دنیا زما کښي او د انجام پۀ لحاظ او فی الحال او پۀ روستو زمانه کښي، پس مقرر ئې کړي ما لره او بیا برکت واچوي ما لره پدي کښي، او کچرته تا ته پته وي چې دا کار شر دے ما لره پۀ دین او دنیا زما کښي او پۀ انجام د کار زما کښي که فی الحال وي او که روستو زمانه کښي وي  نو دا کار واړوي زما نه او ما واړوي د هغې نه او مقرر کړه ما لره خیر چرته چې وي بیا مې پۀ دي خوشحاله کړه .

## ♥ د جنازي د مونځ دعا ♦

**سائل :** اے رور مؤمنه ! د جنازي مونځ راته اوښایه .

**مجیب :** صحیح ده د جنازي د مونځ نه مقصد مړي ته دعا کول دي لکه حدیث کښي راځی " فَاَخْلِصُوْا لَهُ الدُّعَآءِ" کله چې د جنازي مونځ کوئي نو مړي ته پۀ اخلاص سره دعا کوئ .

اول به تکبیر بیا به ثناء اوائي بیا به تکبیر بیا به درود شریف بیا به تکبیر بیا به دا دعا اوائي بیا به تکبیر او بیا به سلام اوګرځوي .

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَیِّنَا وَمَیِّتِنَاوَشاهِدِنَا وَغَائِبِنَا وَصَغِیْرِنَا وَکَبِیْرِنَا وَذَکَرِنَا وَاُنْثٰنَااَللّٰهُمَّ مَنْ اَحْیَیْتَه مِنَّا فَاَحْیِه عَلَی الْاِسْلَامِ وَ مَنْ تَوَفَّیْتَهٗ مِنَّا فَتَوَفَّهٗ عَلَی الْاِیْمَانِ

**ترجمه :** اے الله بخښنه وکړي ژوندوزمونږ.ته اومړوزمونږ.ته اوحاضروزمونږ.ته او غیر حاضرو زمونږ ته او وړو زمونږ ته او لویو زمونږ ته او نارینو زمونږ ته او زنانؤ زمونږ ته اے الله هغه څوک چې ژوندے کوي ته هغه لره زمونږ نه نو ژوندے کړي هغه لره په اسلام باندي اوهغه څوک چې مړکوي ته هغه لره زمونږ نه نو مړ کړي هغه لره په ایمان باندي

**۲-**اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ وَعَافِهِ وَاعْفُ عَنْهُ وَاَکْرِمْ نُزُلَهُ وَوَسِّعْ مُدْخَلَهُ وَاغْسِلْهُ بِالْمَآءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ وَنَقِّهِ مِنَ الْخَطَایَا کَمَا نَقَّیْتَ الثَّوْبَ الْأَبْیَضَ مِنَ الدَّنَسِ وَاَبْدِلْهُ دَارًا خَیْرًا مِنْ دَارِهِ وَاَهْلًا خَیْرًا مَنْ اَهْلِهِ وَزَوْجًا خَیْرًا مِنْ زَوْجِهِ، وَاَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ وَاَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ النَّارِ( مسلم۱ / ۳۱۱ ) .

**ترجمه :** اے الله ! بخښنه اوکړه ده ته، او رحم پري اوکړه او معافی اوکړه د ته او ښه کړه میلمستیا د ده، او فراخه کړه ځائے د ده او اوینځه دا په اوبو او په واوره، او په ګلئ باندي او پاک کړه دا د ګناهونو نه لکه څرنګه چې تا سپینه جامه د خیري نه پاکه کړي ده، او په بدل کښي ورکړه کور غوره د کور د ده نه، او اهل غوره د أهل د ده نه، او ښځه غوره د ښځي د ده نه، او جنت ته ئې داخل کړه او اوساته ده لره د عذاب د قبر نه، او د عذاب د اور نه .

♥د نا بالغ مړ ماشوم دعا♦

اللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَافَرَطًا وَاجْعَلْهُ لَنَااَجْرًاوَذُخْرًاوَاجْعَلْهُ لَنَاشَافِعًاوَّمُشَفَّعًا

**ترجمه :** اے الله اوګرځوي د لره دپاره زمونږه خوشحالۍ د(آخرت)او اوګرځوي د لرهدپاره زمونږ.هاجراوذخيره د(آخرت)اووګرځوي دلره دپاره زمونږ.هشفاعت کونکے او د هغه چا نه چې شفاعت د هغه قبول کړے شوے وي .

♥د نا بالغې مړي ماشومي دعا♦

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَالَنَافَرَطًاوَاجْعَلْهَالَنَااَجْرًاوَذُخْرًاوَاجْعَلْهَا لَنَاشَافِعَةً وَّمُشَفَّعَةً

اے الله اوګرځوي دي لره دپاره زمونږه خوشحالۍ(دآخرت) او اوګرځوي دي لره دپاره زمونږه اجر او ذخيره د ( آخرت)او وګرځوي دي لره دپاره زمونږه شفاعت کونکېاو د هغه چا نه چې شفاعت د هغې قبول کړے شوے وي .

**( شـــــــــــپږ کلــــــــــمې )**

♥ اوله کلمه ♦

لَااِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ مُحَمَّدُرَّسُوْلُ اللّٰه

**ترجمه :** نشته لائق دعبادت سِوا د الله نه او محمدﷺ د الله رسول دے.

♥ دويمه کله شهادت ♦

اَشْهَدُاَنْ لَّااِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ وَاَشْهَدُاَنَّ مُحَمَّدًاعَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

**ترجمه :** زۀ ګواهی کوم د دی خبری چې نشتے لائق دعبادت (بل حاجت روا) بغيرد الله نه، او زۀ ګواهی کوم ددی خبری چې محمدﷺ بنده د الله اورسول دالله دے.

♥ دريمه کلمه تمجيد ♦

سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُلِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ وَاللّٰهُ اَکْبَرُ وَلَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ .

**ترجمه :** پاکی ده الله لره او حمدونه دی الله لره ، او نشته لائق د بندګئ بغير دالله نه ، الله ډير لوئے دے . او نشته دے طاقت او قوت (دګناه نه د ساتلو او د نيکو د کولو ) مګر پۀ توفيق د الله سره چې لوئ شان او عظمت والا دے .

♥ خلورمه توحيد ♦

لَااِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ , لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ , يُحْيِیْ وَيُمِيْتُ ط وَهُوَ حَیٌّ لَّايَمُوْتُ اَبَدًا اَبَدًا ط ذُوْ الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ ط بِيَدِهِ الْخَيْرُ ط وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْئٍ قَدِيْرٌ.

**ترجمه :** نشته بل فائده ورکولو او نقصان دفع کولو والا غیر د الله نه بل څوک يك يو ذات دے شريك ئې نشته دے، هغه لره بادشاهي ده او هغه لره صفتونه دي ژوندي کول او مړه کول کوي، او دغه الله هميشه ژوندے دے هيڅ کله پري مرګ نه راځي خاوند د لوئے والې او عزت دے د الله په لاس کښي خير دے او دغه الله په هر څيز قدرت والا دے .

♥ پنځمه کلمه استغفار ♦

اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ رَبِّیْ مِنْ كُلِّ ذَنْبٍ اَذْنَبْتُهُ عَمَدًا اَوْ خَطَاً سِرًّا اَوْ عَلَانِيَةً وَأَتُوْبُ اِلَيْهِ مِنَ الذَّنْبِ الَّذِیْ أَعْلَمُ وَمِنَ الذَّنْبِ الَّذِیْ لَا أَعْلَمُ اِنَّكَ أَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ وَسَتَّارُ الْعُيُوْبِ وَغَفَّارُ الذُّنُوْبِ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ.

**ترجمه :** ښښنه غواړم د الله نه چې زما رب دے د هر ګناه نه چې کړے ما وى قصدا يا په خطاء سره ، په پټه وى او که په ښکاره او تو به اوباسم دى الله ته د هر هغه ګناه نه چې ما ته ئي پته ده او د هغه ګناه نه چې ما ته ئي پته نشته ، يقينا ته پوهه ئي په پټو څيزونو او پټونکے ئي د عيبونو ، او ښښونکے ئي د ګناهونو ، او نشتے طاقت او قوت ( د نيکو د کولو او د ګناه نه د اړولو ) مګر په توفيق د الله سره چي ډير اوچت او لوئے دے .

## ♥شپږمه کلمه ردّ کفر ◆

***اَللّٰهُمَّ اِنِّی اَعُوذُبِكَ مِنْ اَنْ اُشرِكَ بِكَ شَیأً وَّ اَنَا اَعلَمُ بِهٖ وَ اَستَغفِرُكَ لِمَا لَا اَعلَمُ بِهٖ تُبتُ عَنهُ وَ تَبَرَّأْتُ مِنَ الكُفرِ وَ الشِّركِ وَ الكِذْبِ وَ الغِیبَةِ وَ البِدعَةِ وَ النَّمِیمَةِ وَ الفَوَاحِشِ وَ البُهتَانِ وَ المَعَاصِی كُلِّهَا وَ اَسلَمتُ وَ اَقُولُ لَا اِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللّٰهِ .***

**ترجمه :** اے الله زۀ پناه غواړم پۀ تا سره د دینه چې حصه دار اوګرځوم د تا سره څه شے ، او زۀ پوهیږم پۀ دی باندی ، او ښښنه غواړم ستا نه د هغه څه چې ما ته پته نشته ، راګرځم تا ته ، زۀ بیزاره یم د کفر ، شرك ، دورغ ، غیبت ، بدعت ، چغلئ ، بدوکارونو ، تهمت ، او د ټولو ګناهونو نه ، او ما غاړه ایښودی ده ، او زما عقیدة ده چې نشتے بل لائق د بندګئ بغیر ستا نه او محمدﷺ د الله رسول دے .

## ♥د خطبی مختصر حکمونه ◆

١ ـ د جمعي پۀ خطبه کښي مونځ شرط دے بغیر د خطبي نه د جمعي مونځ نه کیږي، دا شرط صرف پۀ ذکر الله سره پوره کیږي.

٢ ـ د جمعي خطبه پۀ عربئ ژبه باندي لوستل ضروري دي، پۀ بله ژبه کښي خطبه لوستل یا پۀ عربئ ژبه کښي لوستل او پۀ بله ژبه کښی ترجمه کول پۀ دغه وخت کښي اوریدل بدعت دے او نا جائز دي، د نبی علیه السلام د سنت او صحابه کرام رضوان الله علیهم أجمعین او إجماع امت نه خلاف دے.

٣ ـ پۀ ولاړه خطبه لوستل سنت دي پۀ ناسته خطبه لوستل مکروه دي .

۴ ـ پۀ اودس سره لوستل سنت دي او بغیر د اودس نه لوستل مکروه دي.

۵ ـ د خطبی نه مخکښي پۀ دمه سره " اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ" لوستل سنت دي .

۶ ـ قوم طرف ته مخ کول او خطبه وئيل سنت دي بل طرف ته مخ کول مکروه دي .

۷ ـ پۀ اوچت آواز سره خطبه لوستل سنت دي د دي د پاره چې خلق ئې واوري پۀ دمه لوستل مکروه دي.

۸ ـ خطبه مختصر لوستل سنت دي، زيات اوګدول جائز نه دی د زيات نه زيات چې د طوال مفصّل سورتونو برابر وي، د دي نه زيات اوګدول لوستل مکروه دي .

**□نت خطبه□ۀ أته/۸ څيز□نو□شتمل ده**

۱ـ د الله د حمد وثناء نه شروع کول.

۲ـ کلمه شهادتين لوستل.

۳ـ پۀ نبی عليه السلام باندي درود شريف لوستل.

۴ـ څه د وعظ او نصحيت کلمات وئيل.

۵ ـ د دواړو خطبو پۀ مينځ کښي لګه شان ناسته کول.

۶ ـ د قران حکيم يو آيت لوستل.

۷ ـ د ټولو مسلمانانو سړو او زنانۀ د پاره دعا غوښتل.

۸ ـ پۀ دويمه خطبه کښي دوباره الحمدلله او ثناء او درود شريف لوستل

## ♥ خطبه ته غوږ نیول واجب دي ◆

د خطبي په مینځ کښي خبري کول سخته ګناه ده. " عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ قَالَ اِذَا قُلْتَ لِصَاحِبِكَ یَوْمَ الْجُمُعَةِ اَنْصِتْ وَالْاِمَامُ یَخْطُبُ فَقَدْ لَغَوْتَ.(رواه الستة وابن حزیمه)

**ترجمه :**ابو هریرة روایت کوي. چي نبی علیه السلام فرمائي : کله چي ته خپل ملګري ته د جمعي په ورځ اوائې چي چپ شه او امام خطبه وائې نو تا لغوه او بے فائدي کار اوکړو .

## ♥ د نکاح خطبه ◆

اَلْحَمْدُ للهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِیْنُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنَعُوْذُ بِاللهُ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَیِّاٰتِ اَعْمَالِنَا مَنْ یَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ یضْلِلْهُ فَلَا هَادِیَ لَهُ ط وَاَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ ط

یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ وَ لَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ﴿۱۰۲﴾ یٰاَیُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمُ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّ خَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَ بَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِیْرًا وَّ نِسَآءً وَ اتَّقُوا اللهَ الَّذِیْ تَسَآءَلُوْنَ بِهٖ وَ الْاَرْحَامَ اِنَّ اللهَ كَانَ عَلَیْكُمْ رَقِیْبًا﴿۱﴾ یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَ قُوْلُوْا قَوْلًا سَدِیْدًاۙ﴿۷۰﴾ یُّصْلِحْ لَكُمْ اَعْمَالَكُمْ وَ یَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْؕ۱ وَ مَنْ یُّطِعِ اللهَ وَ رَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِیْمًا﴿۷۱﴾

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهُ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ط اَلنَّكَاحُ مِنْ سُنَّتِیْ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِیْ فَلَیْسَ مِنَّیْ ط وَقَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ : یَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمُ الْبَاءَةَ فَلْیَتَزَوَّجْ فَاِنَّهُ اَغَضُّ لِلْبَصَرِ وَاَحْصَنُ لِلْفَرْجِ ط اَوْ كَمَا قَالَ رَسُوْلُ اللهُ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ .

♥د نکاح نه روستو دعا ♦

**ارشد :** چې کله نکاح اوشي نو کومه دعا وئيل پکار دي ؟

**ابت :** بَارَكَ اللهُ لَكَ وَبَارَكَ عَلَيْكَ وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِىْ خَيْرٍ ط

## اَلْقِسْمُ الْاَوَّلُ مِنَ اَلْخُطْبَةِ الْاُوْلٰى لِلْجُمُعَةِ الْمُبَارَكَةِ

اَلْحَمْدُ لِلهِ الَّذِيْ لَايَكْشِفُ الشَّدَائِدَ اِلَّاهُوَ ۝ وَ لَا يَدْفَعُ الْمَكَآئِدَاِلَّاهُوَ ۝
وَ مَا مُرَادُ العَاشِقِيْنَ فِيْ الدَّارَيْنِاِلَّاهُوَ ۝وَ مَا مَطْلُوبُ الوَاصِلِيْنَ فِيْ
الْكَوْنَيْنِ اِلَّا هُوَ ۝ اَلْعِبَادُ كُلُّهُم
ضُعَفَآءُلَاقَوِيَّ اِلَّا هُوَ ۝وَ النَّاسُ كُلُّهُمْ فُقَرَآءُ لَا غَنِيَّ اِلَّا هُوَ۝لَا حَافِظَ
وَ لَا نَاصِرَ اِلَّا هُوَ ۝غَافِرُ الذَّنْبِ وَ قَابِلُ التَّوْبِ شَدِيْدُالْعِقَابِ ذِي الطَّولِ
لَااِلٰهَ اِلَّا
هُوَ ۝هَلْ مِنْ خَالِقٍ غَيْرَاللهِ يَرْزُقُكُمْ مِنَ السَّمَآءِ وَ الْاَرْضِ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ
۝وَ مَنْ يَمْلِك السَّمْعَ وَ الْاَبْصَارَ لَا اِلٰهَ اِلَّا
هُوَ۝ وَ مَنْ يَعْلَمُ السِّرَّ وَالْجَهْرَ لَا اِلٰهَ اِلَّا
هُوَ ۝مُوْسٰى عَلٰى الطَّوْرِ حِيْنَ نَادَاهُ قَالَ :لَااِلٰهَ اِلَّا هُوَ۝ يُوْنُسُ فِيْ بَطْنِ
الْحُوتِ حِيْنَ نَادَاهُ
قَالَ :لَااِلٰهَ اِلَّا هُوَ۝ اِبْرَاهِيْمُ فِي النَّارِ الْحَرِيْقِ حِيْنَ نَادَاهُ
قَالَ :لَااِلٰهَ اِلَّا هُوَ۝ يُوْسُفُ فِيْ قَعْرِ الْبِيْرِ حِيْنَ نَادَاهُ قَالَ :لَا اِلٰهَ
اِلَّا هُوَ،وَ نَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَا اللهُ وَحدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ هُوَالْحَيُّ لَا اِلٰهَ اِلَّا
هُوَ۝

وَ نَشْهَدُ اَنَّ سَيِّدَنَا وَ مَوْلٰنَا مُحَمَّدًاعَبْدُهُ وَ رَسُولُهُ صَلّٰى اللهُ تَعَالٰى عَ
لَيْهِ وَ آلِهِ وَ سَلَّمَ اِعْلَمُوا اَنَّ الدُّنْيَا دَآئِرَةٌ وَّ لَذَّتُهَا فَانِيَةٌ وَّ
طَاعَتُهَا بَاقِيَةٌ وَّحَاصِلُهَا فَوْتٌ وَّ آخِرُهَا مَوْتٌ اِخْوَانِيْ بَدَنٌ ضَعِيْفٌ وَّ زَادٌ
قَلِيْلٌ
وَّ بَحْرٌ عَمِيْقٌ وَّ النَّارُ حَرِيْقٌ وَّ الصِّرَاطُ دَقِيْقٌ وَّالْمِيْزَانُ عَدِيْلٌ وَّ الْقِيَامَةُ
قَرِيْبٌ وَ الْحَاكِمُ رَبٌّ جَلِيْلٌ وَّيَقُوْلُ آدَمُ صَفِيُّ اللهِ نَفْسِيْ نَفْسِيْ

وَ يَقُوْلُ اِبْرَاهِيمُ خَلِيْلُ اللهِ :نَفْسِيْ نَفْسِيْ وَ يَقُوْلُ اِسْمَاعِيْلُ ذَبِيْحُ اللهِ : نَفْسِيْ نَفْسِيْ ، وَ يَقُوْلُ يُوْسُفُ صِدِّيْقُ اللهِ : نَفْسِيْ نَفْسِيْ ، وَ يَقُوْلُ دَاودُ خَلِيْفَةُ اللهِ : نَفْسِيْ نَفْسِيْ ، وَ يَقُوْلُ مُوْسٰى كَلِيْمُ اللهِ : نَفْسِيْ نَفْسِيْ ، وَ يَقُوْلُ عِيْسٰى رُوْحُ اللهِ : نَفْسِيْ نَفْسِيْ ، وَ يَقُوْلُ رَسُوْلُنَا وَ شَفِيْعُنَا مُحَمَّدُ صَلّٰى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ اُمَّتِيْ اُمَّتِيْ ، وَ يَقُوْلُ الْجَبَّارُ جَلَّ جَلَالُهُ وَ عَمَّ نَوَالُهُ عِبَادِيْ عِبَادِيْ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَ لَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ بَارَكَ اللهُ لَنَا وَ لَكُمْ فِيْ الْقُرْاٰنِ الْعَظِيْمِ وَ نَفَعَنَا وَ اِيَّاكُمْ بِالْآيَاتِ وَ الذِّكْرِ الْحَكِيْمِ .

**ترجمه :** ټول د كمال صفتونه خاص هغه الله لره دي چي د هغه نه علاوه هيڅ مشكل كشاه نشته، او د هر مكر او فريب نه بچ كونكے سوا د هغه نه بل څوک نشته، او نه دے مراد د رشتونے عاشقانو پهٔ دنيا او آخرت كښي مكر الله، او د مشتاقانو د وصال مطلوب د دينه سوا دغې نه صرف الله دے. محافظ او مدد ګار د الله نه سوا بل څوک نشته، بخښونكے د ګناهونو او قبلونكے د توبې، سخت عذاب والا، طاقت والا د دينه سوا بل څوک نشته. او څوک دے مالك د اوريدلو او ليدلو؟ د الله نه سوا څوک نشته، او څوک دے پوهيدونكے پهٔ پټه او ښكاره؟ د الله نه سوا بل غيب دان نشته، حضرت موسى عليه السلام: پهٔ كوه طور باندي وو كله چي ئې آواز اوكړو او دغه ئې اوئيل چي د الله نه سوا بل څوک كار ساز نشته. يونس عليه السلام د مهې پهٔ خيټه كښي وو كله چي آواز اوكړو او دغه ئې اوئيل چي د الله نه سوا بل څوک مشكل كشا نشته. حضرت ابراهم عليه السلام پهٔ ګرم اور كښي كله چې ئې اواز اوكړو او دغه ئې اوئيل چې د الله نه سوا بل څوک بچ كولو والا نشته، حضرت يوسف عليه السلام پهٔ جور كوهې كښي كله چې ئې اواز وكړو او دغه ئې اوئيل چې د الله نه سوا بل څوک د مشكل نه نجات والا نشتے، او مونږه ګواهې كوؤ چي د الله ربُ العزت نه علاوه بل څوک د اوريدلو لائق نشته صرف دغه دے. هيڅ شريك ئې نشته، دغه ژوندے دے د دينه سوا بل څوک ژوند والا نشته، او مونږ ګواهې كوؤ چي حضرت محمد ﷺ د الله بنده او رسول دے رحمتونه او بركتونه د الله دي وي پهٔ نبى عليه السلام. پوهه شئ چي

یقینا دنیا ګردش کولو والا ده د دي خوندونه ختمیدونکي دي، او دَ دی نیکیاني باقي دي دَ دوئي، او دوئ حاصل فنا دي او آخر ئې مرګ دے.

زما رونړو ! دا بدن ډیر کمزورے دے او د لاري توښه لګه ده، او سمندر جور دے اور سوزنکے دے او پل صراط باریك دے، او میزان انصاف والا دے، او قیامت نزدے دے، او فیصله کونکے پالونکے لوئ شان والا دے. پۀ دغه وخت به آدم صفی الله د نفسی نفسی چغي وائې، او نوح نبی الله به وائې نفسی نفسی، او ابراهیم خلیل الله به د نفسی نفسی چغې وائې، او اسماعیل ذبیح الله به د نفسی نفسی چغې وائې، او حضرت یوسف صدیق الله به د نفسی نفسی چغې وائې، او حضرت داؤد خلیفة الله به هم د نفسی نفسی چغي وائې، او حضرت موسی کلیم الله به هم د نفسی نفسی چغې وائې، او حضرت عیسی روح الله به هم د نفسی نفسی چغي وهي، او زمونږ رسول او شفیع حضرت محمد ﷺ به د امتی امتی چغي وهې، او زبردست طاقت والا او لوئ عظمت شان والا چې د هغه انعامات عام دي هغه به فرمائي : اے زما بندګانو اے زما بندګانو نه به وي ویره پۀ دوئ باندي او نه به دوئې غمژن وي الله دي برکت واچوي پۀ مونږه او تاسو چه قرآن عظیم باعث شي. او فائده دي راکړي مونږه او تاسو ته پۀ آیتونو سره او نصیحتونو د حکمت والا سره.

## اَلْقِسْمُ الْثَانِيْ مِنَ اَلْخُطْبَةِ الْاُوْلٰی لِلْجُمْعَةِ الْمُبَارَكَةِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ قَدَّرَنَا فِيْ سَابِقِ عِلْمِهٖ بِالْفَضْلِ وَ الْاِحْسَانِ ، وَ زَيَّنَ بِجَوَاهِرِ الْجُمُعَةِ رِقَابَ الشُّهُوْرِ وَ الْاَوَانِ ط رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ الَّذِيْ رَبَّنَا فِيْ الدُّنْيَا بِنَعِيْمِ الْاَلْوَانِ ط الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ الَّذِيْ فِيْ الْقُبُوْرِ وَ الدِّيْوَانِ ط مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ الَّذِيْ فِيْهِ يَحْكُمُ بِالْعَدْلِ وَ الْبُرْهَانِ ط اِيَّاكَ نَعْبُدُ حَقَّ الْعُبُوْدِيَّةِ فِيْ كُلِّ حِيْنٍ وَّ اٰنٍ ط وَ اِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ عَلٰى جَمِيْعِ الْاَعْدَآءِ مِنَ الْجِنِّ وَ الْاِنْسِ وَ الشَّيْطَانِ ط اِهْدِ نَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ بِالْاِسْتِقَامَةِ عَلٰى التَّوْحِيْدِ وَ الْاِيْمَانِ ط صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ بِالْهِدَايَةِ اِلٰى سَبِيْلِ الْجِنَانِ ط غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ مِنْ اَهْلِ الْكُفْرِ وَ الشِّرْكِ وَ الطُّغْيَانِ ط وَلَا الضَّآ لِّيْنَ مِنْ اَهْلِ الْاَهْوَآءِ وَ

الْبِدْعَةِ وَ الْعِصْيَانِ اٰمِيْنَ اِجَابَةً لِلّٰهِ تَعَالٰی وَ لِرَسُوْلِهٖ شَوْقًا اِلٰی لِقَآءِ الرَّحْمٰنِ ط وَ نَشْهَدُ اَن لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْکَ لَهٗ شَهَادَةً کَامِلَةً مُّوْصِوْلَةً اِلٰی الْجَنَّةِ وَ الرِّضْوَانِ ط وَ نَشْهَدُ اَنَّ سَيِّدَنَا مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَ رَسُوْلُهٗ وَ عَلٰی آلِهٖ وَ صَحْبِهٖ اِلٰی آخِرِ الزَّمَانِ ط بَارَکَ اللّٰهُ لَنَا وَ لَکُمْ فِیْ الْقُرْاٰنِ الْعَظِيْمِ ط وَ نَفَعَنَا وَ اِيَّاکُمْ بِالْاٰيَاتِ وَ الذِّکْرِ الْحَکِيْمِ ط اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ لِیْ وَ لَکمْ وَ لِسَآئِرِ الْمُسْلِمِيْنَ ط وَ اسْتَغْفِرُوْهُ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُالْرَحِيْمُ ط

**ترجمه :**ټول د کمال صفتونه خاص الله رب العزت هغه ذات لره دی چې مونږ ه ئې په اندازه کړي وو په علم ازلي سره په خپل فضل واحسان سره، او ښائسته کړي دي په ملغلرو د جمعی ښتونه د میاشتو او کلونو، پالونکے د مخلوقاتو دے هغه ذات دے چې پالونکے زمونږ دے په دنیا کښي په رنګا رنګ نعمتونو باندي.

عام او خاص مهربانه دے په قبر او کچرو کښي، مالك د ورځی د بدلي دے چي په دي کښي به په انصاف او دليل فيصله کونکے وي، خاص تا لره مونږه حق بندګي کوؤ په هر وخت کښي، او مونږه خاص ستا نهامداد غواړو په ټولو دشمنانو د پيرانو او انسانانو او شيطانانو باندي، مضبوط کړي مونږه په نيغه لاره په استقامت سره په توحيد او ايمان باندي. لار د هغه کسانو چې تا پري انعام کړے دے په هدايت سره لاري د جنت ته، چي نه دے غضب شوے په هغوئ باندي د خواهشاتو بدعاتو او نافرماني والا نه، اے الله ! دا دعا زمونږ قبوله کړي، مونږه ستا د ملاقات د پاره ستا او د رسول ستا په آواز لبيك وايو. او مونږ ګواهي د دي خبري کوو چي نشته بل حاجت پوره کونکے غير د الله نه بل څوک يك يو دے شريك ئې نشته دے داسي پخه او مضبوطه ګواهي چي جنت او د الله رضا ته رسونکي وي، او مونږ ګواهي کوؤ چي يقينا زمونږ آقا حضرت محمد رسول الله ﷺ د الله بنده او رسول دے او په آل د هغه او په ملګرو د هغه تر آخري ګړئ پوري په دي رحمتونه نازل کړي. الله دي په قرآن عظيم کښي زمونږ او ستاسو د پاره برکتونه نازل کړي. او فائده دي راکړي مونږه او تاسو

لره پهٔ آیتونو او قرآن د حکمتونو والا کبني. زهٔ بخښنه غواړم د الله نه د ځان د پاره او ستاسو د پاره او د ټولو مسلمانانو د پاره. او بخښنه اوغواړئ د الله نه یقینا دا الله بخښونکے او مهربانه دے.

